# افغانستان ته د حنا رباني کهر سفر یو ډیپلوماټیک حق دی!

**محمد جاوید فدائي**

افغانســتان ته د حنا رباني کهر راتګ یو ډیپلوماټیک ســفر و چــې د ډیپلوماټیکو اصولو په رڼا کې ترسره شــو. د ۱۹۶۱ کال د ویانا کنوانســیون د ډیپلوماټیکو اړیکو یو نړیوال تړون دی چــې د خپلواکو هیوادونو ترمنــځ د ډیپلوماټیکو اړیکو چوکاټ ټاکي.
د دغــه تړون هدف دا دی چــې د حکومتونو ترمنځ د یونیفــورم طرزالعملونو او اصولو لــه لارې د دوســتانه اړیکو پراختیا اســانه کړي؛ پــه ځانګړې توګــه دا د ډیپلوماټیک مصؤونیــت اوږدمهاله دود تائیدوي چې ډیپلوماټیکــو ماموریتونو ته امتیازات ورکوي.
د ویانــا کنوانســیون له مخــې کوربه هیواد مکلف دی چــې د بهرنیــو ډیپلوماټانو ټول امتیــازات ورکــړي او هیڅ کــوم ډیپلومــاټ د جبر یا ځورونــې له ویــرې پرته خپل ماموریت ترسره کړي.
د ویانا کنوانســیون د عصري نړیوالو اړیکو او نړیوالو قوانینو بنســټ دی چې په نړیواله کچــه د خپلواکو هیوادونو او ملګرو ملتونو لخوا تصویب او لاســلیک شــوی دی چې هیڅوک یې له اصولو څخه ســرغړونه نه شي کولای.
د ویانا کنوانســیون تړون له مخې ډیپلوماټانو ته یو شــمېر امتیازات ورکړل شوي چې په لاندې کرښــو کې به لنډیز سره ذکر شي.
د ۲۰ مادې له مخې د رالېږونکي دولت ډیپلوماټان کولای شــي خپل بیرغ او نښــان د خپل ماموریت په ســاحه یعني ســفارت او کونسلګرۍ کې وکاروي، چې د ماموریت د مشــر یعني سفیر یا کونسل د اســتوګنې ځای او موټر هم پکې شامل دي.
د ۲٤ مــادې لــه مخې د ډیپلوماټیک ماموریت ارشــیف او اســناد محرم دي او کوربه هیواد هیڅ حق نه لري چې د ډیپلوماټانو اســناد یا ارشــیف خلاص کړي.
د ۲۷ مــادې له مخې کوربه هیــواد باید د ډیپلوماټیــک ماموریت او د دوی د هیواد د ډیپلوماټانو ترمنځ د آزادو اړیکو اجازه او ســاتنه وکړي. کوربه هیــواد باید ډیپلوماټیک بېــګ هیڅکله خلاص نه کړي، که څــه هم ډیپلوماټ له خپــل مصؤونیت څخه ناوړه اســتفاده کړې وي او بېګ کې یــې ممنوع څیزونه ځای پر ځای کړي وي.
د ۲۹ مــادې له مخې ډیپلومــاټ باید د هر ډول نیولو یا توقیــف څخه مصؤون وي او کوربه هیواد باید د نوموړي د شــخصیت او وقار د ســاتنې لپاره ټولې هڅې وکړي.
د ۳۱ مــادې له مخــې ډیپلوماټان د کوربه هیواد د مدنــي او جنایي جرمونو پر وړاندې قضائــي مصؤونیت لــري، البته که ډیپلوماټ د رســمي دندې څخه بهر نــور فعالیتونه ترســره کوي نو بیا یــې خپل مصؤونیت ختمیږي او ۳۲ مادې لــه مخې دولتونه کولای شــي د ډیپلوماټ معافیت معاف کولو اجازه په صریح ډول ورکړي.
د ۳٤ او ۳٦ مادو له مخې ډیپلوماټیک ماموریتونــه له مالیاتو او ګمرکي محصول څخه معــاف دي. د ۳۷ مادې له مخې د ډیپلوماټانو د کورنــۍ غړي چې په کوربه هیواد کې ژونــد کوي د ډیپلوماټانو په څیــر د خوندیتوب څخه برخمن دي.
افغانســتان د ویانا کنوانســیون د ډیپلوماټیکو اړیکو نړیــوال تړون د ۱۹٦٥ د اکتوبر په ٦ لاســلیک کړی دی چې د تــړون ټول اصول بــه د ډیپلوماټیکو اړیکــو پاللو پر مهال مراعتوي. د ویانا کنوانســیون مراعتول په ټولو هیوادونــو باندې لازمي دي، هیڅ هیواد نه شــي کولای چې خپل هیواد کې بهرنیو ډیپلوماټانو ســره د ویانا کنوانســیون خلاف ســلوک وکړي. د کنوانســیون تطبیق په کمزوریو او پیاوړیو هیوادنو پورې اړه نه لري، د روس – امریکا، پاکستان– هند او ایران– عربســتان په څېر سر سخت دښمن هیوادونه هم نه شــي کولای چې د شــخړو پر مهال ډیپلوماټیک اصول تر پښو لاندې کړي.
په همدې اســاس د حنا رباني کهر ســفر ډیپلوماټیک و او څوک چې د افغان چارواکو ســره د نوموړې ملاقات باندې نیوکې کــوي د ډیپلوماټیکو اړیکو څخــه بالکل ناخبره دي او نیوکــې یې هیڅ اســاس نه لــري. ځکه چې د پاکســتان یا بل هــر هیواد څخه راتلونکــي ډیپلوماټان د خپلو هیوادونو لخوا را اســتول کیږي، د افغانســتان حکومت د ډیپلوماټانــو په ټاکلو او یا د دوی په لباس خوښــولو کې هیڅ حق نه لري.
همدارنګــه افغــان ډیپلوماټان هم پــه افغاني لبــاس او پګړۍ کې نړیوالو کنفرانســونو کــې بغیر د کوم جبر یــا ځورونې څخه پــه آزاده فضاء کې ګډون کــوي. که چیرې د ډیپلوماټانــو په لباس او راتــګ باندې کوربه هیــواد د نیوکې یا بدلــون حق درلودی، نــو هیڅکله بــه افغان ډیپلوماټان په اروپایي، آســیایي هیوادونو او مســکو کې نړیوالو کنفرانســونو او یا هم د امریکا ســره مخامخ مذاکراتو کې په افغاني لباس کې د ګډون اجازه نه وه ترلاسه کړې.
ســربیره پردې افغان حکومت تراوسه یوازې په ډي فکټو بڼه (مؤقتي یا ضمني رسمیت) رسمیت لري، چې دا د ډي جوري رســمیت (دایمي یا څرګند رسمیت) لومړۍ مرحله ګڼــل کیــږي. د معاصر نړیوال قانــون او نړیوالو اړیکــو په رڼا کې نــوي حکومتونه د نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو لخوا د ازمېښــت لپاره یوازې په ډي فکټو بڼه رســمیت باندې پیژندل کیږي. ډي فکټو رســمیت د هر هیواد یا نــوي حکومت لپاره د ازموینې مرحلــه ده چې یــوازې ډیپلوماټیکي اړیکې ورســره پالي او نړیوالو کنفرانســونو ته یې دعوتوي، ترڅو ډي جوري یا دایمي رســمیت پېژندنې ته د رســېدو لپاره نړیوالې ټولنې ته د خپلو مســؤلیتونو ترسره کولو ازموینه ورکړي.
لنډه دا چې څوک د حنا رباني کهر ســفر ته د افغان حکومت هیڅ غبرګون نه څرګندولو او یا هم د لوړ پــوړو چارواکو د ملاقات څخه ډډه نه کولو بانــدې نیوکه کوي، هغوی غواړي چې افغان حکومت نړیواله کچــه باندې نور هم منزوی کړي، ترڅو چې افغان حکومت د ډیپلوماټیکو اصولو څخه ســرغړونه باندې تورن شــي او د رســمیت په تړاو ترلاسه شــوی باور یې د نړیوالو پر وړاندې ختم شي.

# د استاد یاسر پوښتنه او غوښتنه ...

او نــړۍ تــه خپلې غوښــتنې واوروي. تر دې چې پــه دې هکله د بشــري حقونو نړیوال مدعیان هم باید خبر او د هغوی د رښــتینولۍ او د روغجنۍ کچه ښــکاره کړی شي.
لنډه دا چې که زموږ دیني علماء، سیاســتوال، اســتادان، ټولنیز مخور اشخاص، د رسنیو فعالان او نور مهم شــخصیتونه په خپلو دغســې مســایلو کې بې پروایــي و نه کړي او په ګــډه خپل اواز او چت کړي، په یقینــي ډول به یې هلې ځلې ښــې مثبتې پایلې ولري او هــر زورواکی به یې پرخبرو اوربدو اړ او مطالبو منلو ته چمتو شــي.

# تجارت بر سر مریضا!
# انتقاد شهروندان از شفاخانه‌ها

**اسفندیار**



کابل شهریست با جمعیت کم و بیش شش میلیون نفــر، دراین مکان پــر از ازدحام با فضــای آلوده و آب وهــوای غیرصحی، مصــؤن مانــدن از انواع میکروب‌هایی که صحت را تهدید میکند، کار آسانی نیست. در کنار آن سالانه تغییرات موسمی و سردی زمستان همراه با ده‌ها ویروس و امراض فصلی از راه می‌رسند. در این ایام ضعیف ترین ویروس تا پای ادم را به شفاخانه نکشاند دست بردار نیست. به خصوص اطفال و کودکان که بیشتر آسیب پذیر اند و یک الرژی کافیســت تا چند بار به داکتر مراجعه کنند. با اینکه کابل از ســهولت های بیشتر صحی نسبت به دیگر ولایت‌ها برخوردار اند، در همه ایام به ویژه در فصل سرد میزبان بیشــتر مریضان از سراسر کشور است.
به هر میزانی که ســردی بیشتر شود به همان پیمانه شفاخانه‌های این شهر مزدحم می‌شوند و مریضان و مریض داران از مرکــز و ولایات برای تداوی اینجا مراجعه می‌کنند.
از ســوی دیگر، ازدحام مردم سبب گردیده تا همه سرمایه گذاران ســکتور صحت در پایتخت چشم بدوزند و شفاخانه و کلینیک‌های صحی اعمار کنند و داکتران متخصص اســتخدام نمایند. این امر سبب گردیده تا بیشتر توجه روستاییان را به خودش جلب کند. شــهروندان هرگاهی که به مشــکلات صحی مواجه می‌شوند از ولایات مختلف به کابل مراجعه می‌کنند تا از امکاناتی که این شــفاخانه‌ها در اختیار دارند صحت یاب شوند. حالا پرسش این است که شفاخانه‌ها تاچه حد در قبال این مریضان ومریضداران و بــرای بهبود و صحت یابی شــان تلاش به خرج میدهند؟ پاسخ این پرسش را از کسانی جویا شدیم که عملاً در شــفاخانه بوده اند و یا تجربه مراجعه به این شــفاخانه‌ها را دارند و یا هم چشم دید شان را روایت می‌کنند.
اکثر مراجعین شــفاخانه‌ها در کابــل از آنچه اضافه ستانی از سوی این شفاخانه‌ها می‌خوانند دل خوش ندارند و معتقد اند که اغلب شفاخانه‌های که تبلیغات گسترده و پر زرق و برق از خدمات‌شان ارایه می‌کنند و مدعی اند که در بخش‌های مختلف فعالیت دارند و از ممالک دیگر داکتر اســتخدام کرده اند، خاک به چشم مردم میزنند و به انحای مختلف پول مردم بی بضاعت را می‌گیرند.
**فهیم باشــنده پروان که چندین بار درکابل برای معالجهٔ مریضش به یکی از شــفاخانه‌های کابل مراجعه نموده گفت:**
با وجود اینکه شفاخانه‌های ولایات با کمبود امکانات قرار دارد، اما شفاخانه های کابل که از امکانات بهتر برخوردار اند در تشــخیص و تجویــز بهتر از آنها نیستند، من در اوایل که اعلانات این شفاخانه‌ها را می دیدم فکرمی‌کردم که دراین بازاریابی‌ها حقیقتی نهفته است ولی زمانیکه در کابل برای معالجهٔ مریضم آمدم دیدم که کاملاً قضیه فرق میکند و انسان اگر متوجه شود می‌بیند فریبی بیش نیست.
وی افزود، من بار نخست در یکی از این شفاخانه‌ها مراجعه کردم با اینکه فیس داکتر ۱۵۰ تا ۲۰۰ افغانی است، دراین شفاخانه ششصد افغانی از من گرفت، بعد از آن راه های پول گرفتن را از مریض آغاز کرد، معاینات مختلف با قیمت های متفاوت انجام دادند. بعد ازآن به دوا خانه‌یی که در داخل شفاخانه قرار دارد معرفی کردند، هیچ معیار سنجش وانصاف نیست تا توان دارند، از مریض داران بابت تداوی مریض شان پول می‌گیرند، آنهم از مریضانی که با پول قرض به کابل می آیند. بنا از حکومت امارت اســلامی و به خصوص وزارت صحت عامه می‌خواهم که جلو این سو استفاده‌ها را بیگیرد.
**زهره باشــنده کابــل با انتقــاد از نحو خدمات شفاخانه‌ها گفت:** من چند سال قبل به خاطر بیماری( ریزش) که داشــتم به یکی از شفاخانه‌های معروف شــهر مراجعه کردم، داکتر برایم گفت که باید از سر وشــش هایت عکس گرفته شود. دیدم فقط هدف شفاخانه های خصوصی کسب پول است نه عرضه خدمات صحــی معیاری و انصــاف و صداقت. از طرف دیگر اکثر داکتران نســخه‌های نا خوانا با رمز می‌نویسند که فقط دواخانه‌های خود شان می‌دانند و بس، بر فرض اگر خوانده هم شــود، غیر از دواهای همان کمپنی که در دواخانه خودشان موجود است، از دیگر کمپنی را نمی‌پذیرند. مثلا وقتی انتی بیوتیک سفتریاکســون می‌نویسند باید همان کمپنی و همان مارک که در دواخانه خودشان دارند بیاوری در غیر آن پذیرفته نمی‌شود.
**مجتبی هدایت یک شهروند دیگر چنین گفت:** من یک دوستم را نسبت مریضی عادی که که داشت به یک شفاخانه خصوصی بردم، در آنجا بستر نمودند در هرشب از بسترش پانزده صد افغانی اخذ می‌کرند با اینکه مریض وضعیت خوبی داشت خیلی دوای گران و انتی بیوتک‌های قــوی برایش تزریق کردند چون تجویز غلط بود مریضی اش بیشتر شد و در نهایت بعد از چند روز در یک شــفاخانهٔ خصوصی دیگر رفت و مریضی اش تشــخیص شد و صحت‌یاب گردید.
تعــدادی هم در این زمینــه وزارت صحت عامه را مخاطب قرار میدهند و معتقد اند که اگر شــفاخانه های دولتی وخصوصی در یک هماهنگی و ارزیابی متداوم به پیش روند، میتوانند به بهترین شکل عرضه خدمت کنند که هم کیفیت شفاخانه‌ها بلند میرود و از خروج میلیون‌ها پول در بیرون از کشور جلوگیری می‌شود و هم از توان مردم بلند نخواهد بود.
**همایون سلیمی باشــنده غزنی گفت:** به نظر من شــفاخانه های دولتی وخصوصی هردو از کیفیت پایین برخوردارند. هرگاه در شــفاخانه های دولتی مراجعه می‌نمایم اصلا کسی در فکر مریض نیست و بی توجهی و بی امکاناتی بیداد می‌کند. دکترانی که در شفاخانه‌های دولتی فعالیت دارند در کنار کار دولتی شان معاینه خانهٔ شخصی هم دارند برای مراجعین از راه های گونا گون می‌فهمانند که در معاینه خانهٔ های شخصی شان مراجعه کنند که این خودش یک نوع فساد است. وزارت صحت عامه در این قسمت باید توجه کند. اگر این وزارت بتواند فعالیت های داکتران شفاخانه های دولتی را کنترول و تنظیم نماید شاید وضعیت بهتر شود.
وی افــزود، یکی دیگر از مشــکلاتی کــه دامنگیر شفاخانه‌های دولتی اســت نبود مکان مناسب برای پایوازان مریض‌ها است. واقعا هر کسی همراه مریض باشد بیشتر از مریض سختی می‌کشد در سرما و گرما نا گزیر اســت در زیر برف و باران شــب و روز را بگذرانند چون مکان‌های که بــرای پایوازان در نظر گرفته شده اصلا مناسب نیســت و در این قسمت واقعا کمترین توجه هم نشده است.
با این همه در ســالهای گذشته شهروندان همواره از نرخ بلندفیس دکتران، بهای بلند دارو، رمز نویســی داکتران و غیرمعیاری بودن شفاخانه‌ها و دواخانه‌های مرتبط شان شکایت داشتند، اما هیچ‌گاه شنیده نشد و حکومت پیشین پیوسته از آنچه که فساد گسترده می‌گفتند و در اکثر موارد به اســاس روابط و فساد اداری برخورد می‌کرد مورد انتقاد بود.
اکنون این شکایت‌ها بار دیگر زمانی مطرح می‌شود که با افزایش میزان بیماری ها در ســرمای زمستان، مراجعه مریضان در پایتخت بیشــتر شــده اســت، مریضان ومریضداران، توجه بیشــتر مســئولان به خصــوص وزارت صحت عامــه حکومت امارت اسلامی را می‌خواهند.
این در حالیســت که پس از روی کار آمدن امارت اسلامی از یک‌سال و اندی به اینسو وزارت صحت عامه و ادره ملی غذا و ادویه افغانســتان، نظارت بر شفاخانه‌ها را افزایش داده و در چند مورد شفاخانه‌های که عملکرد غیر معیاری داشته اند را هشدار داده اند.
این وزارت در یک اقدام کم پیشینه دیگر نسخه‌های غیر خوانا از سوی داکتران را ممنوع اعلام کرد تا جلو سو استفاده‌ها در این زمینه را بگیرد.

# شرکت‌های مخابراتی از انصاف کار بگیرند

تحــولات و بالندگــی اجتماعات بشــری، توســعه تکنالوژی، رشــد پردامنه ارتباطات، جهانی شــدن تقاضــا و نیازهای فردی و اجتماعی ســبب گردیده، جهــان به یک دهکــده کوچک تبدیل شــود که با به میان آمدن ایــن همه به خصوص توســعه تکنالوژی جدیــد، ســهولت های زیــادی به انســان های کره خاکی ایجــاد گردیده و باعث پیشــرفت و ترقی در جهان شده است.
ایــن تکنالوژی، تســهیلات زیــاد را در عرصه های مختلــف، خصوصاً در عرصــه ارتباطــات به میان آورده کــه در همیــن مرحلــه ایجاد دســتگاه ها و شــرکت های مخابراتــی برای جوامع بشــری آنقدر مثمر و مفید واقــع گردیده که اکثر کارها و مراودات های روزمره شــان کــه روز هــا و ماه هــا به طول می انجامیــد، در مدت کوتاهــی یعنی یک الی دو ساعت انجام شده و اســتفاده اعظمی از آن صورت گرفته اســت. بنابرین آوردن دســتگاه ها و تاسیسات مخابراتــی در کشــور مــا در دهه هشــتاد یک نوید خــوب و کار عام المنفعه برای مــردم و جامعه تلقی گردیده که همه مردم از آن اســتقبال شــایانی نموده اند و دیده شــد که در کوتاه ترین مدت این شــرکت ها در سراســر کشور وسعت یافت و ســالها مصدر خدمات ارزنده به مردم گردیدند. ولی متأســفانه از چند ســال به این ســو، در یک مملکت اسلامی به جای آنکه بنیاد و اســاس خوبتر و بهتر شــبکه های خدماتی رشــد می کــرد، شــرکتهای مخابراتی راه هــای منفی و غیــر معقول را در پیــش گرفتند که در ابتدا ده فیصد از کریــدت کارت ها بنام مالیه اضافه ســتانی را در تبانی به مسؤلان حکومت پیشین شروع کردند، دولت وقــت هم آنها را حمایــه نمود، و در این اواخر علاوه از ده فیصد مالیه بیشــتر را بنام های مختلف یعنی پیشــکش خاص، پیشــکش رایگان و ... پول مردم را می ســتانند و از کریدت کارت بنام فعال ســاختن انترنت پول را می خورند که همه اش، فریب و نیرنگ است.
**احمد یکی از باشــنده گان مکروریان ســوم می گویند:** این شرکت درمدت یک روز از ساعت ۵۸: ۱۱ قبل از ظهر تا ساعت ۱۱:۰۰ شب کریدت زیادی را از انترنــت وضع و پول مشــتریان را مانند آب می خورد. وقتی به خدمات مشــتریان تیلفون می نمایم کســی جهت پاســخ دهی حاضر نمی شــود اصلاً هیچ جــواب نمیدهنــد و اگر جواب هــم می دهند می گویند، گوشی شــما خراب است بنأ از آنجائیکه روزنامه های دولتی، ارگان معتبر و مقتدر در کشــور اســت واز نظر قانــون و حقوق اتبــاع، صلاحیت و مسولیت دارند به شــکایات مردم رسیدگی کرده، راه حل اصولی و منطقی را پیرامون این معضل جســتجو نمایند، بنابرین مشــتریان شــرکت مخابراتی روشن، از مسوولان وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی امارت اســلامی افغانســتان تقاضا منــد اند که جلو خودسری های شرکت های مخابراتی به ویژه روشن را گرفته تا باشــد که در کشور دامنهٔ بدبختی بیشتر از این گســترده تر نشود. زیرا امارت اسلامی افغانستان برمبنای عدالت و صداقت اســتوار بوده و شــعار بی نظیر شــان، ریشه کن ساختن فســاد، خیانت و نابود کردن بی عدالتی در کشور می باشد.

**سهیلا کبیر**

# نگاهی به حکومت داری الکترونیکی

**بخش سوم / ابوالیاس جهادوال**

در شمارههای قبلی در رابطه به نوعیت، تاریخچه، تعاریف، خدمات، مزایا، مدلها و شرایط تحقق حکومتداری الکترونیکی و همچنان نقش آن در تأمین شفافیت معلومات ارائه شد. بناءً در این بخش تلاش شده در مورد ارزشهای اقتصادی و اجتماعی این شیوه حکومتداری توضیحات ارائه شود:

**ارزشهای اقتصادی و اجتماعی:**

بررسیهای انجام شده نشان میدهد حکومتداری الکترونیکی بهصورت مستقیم و غیرمستقیم موجب افزایش تولید ناخالص داخلی و رشد اقتصادی شده و با افزایش شفافیت و دسترسی به اطلاعات مشکلات مربوط به اطلاعات نامتقارن را کاهش دهد.

نتایج مطالعات انجام شده در این زمینه نشان میدهد کشورهایی که دارای شاخص فساد پایین تر و شفافیت بودجه بالاتر هستند، وضعیت مناسبتری در شاخص حکومتداری الکترونیکی را دارا میباشند. میزان اثرگذاری برای کشورهای درحال توسعه به مراتب بیشتر از کشورهای توسعه یافته است. البته مدیریت فساد اداری در بخش حکومتداری تا حد زیاد مبتنی بر تصمیمهای مدیریت و عوامل کلانتر سازمانی و محیطی است و فناوری اطلاعات نمیتواند فی نفسه فساد را کاهش دهد.

در دو دهه گذشته، کشورها جهان تلاش کردند که از توان بالقوه فضای مجازی برای بهبود فرایندهای حکومتداری استفاده نمایند. در این رابطه باوجود اینکه به صورت نسبی سطح خوبی از شفافیت و گستره مناسبی از روش های نوآورانه خدمت رسانی ارائه شده؛ اما برخی از مردم نسبت به استفاده از این خدمات رضایت چندانی ندارند؛ طوریکه بهرهمندی از خدمات الکترونیکی به شدت وابسته به میزان اعتماد کاربران است. میزان اعتماد و مشارکت معیارهای کلیدی سرمایه های اجتماعی و نیز شاخص های حکومت داری خوب شمرده میشود. از اینرو می توان گفت توسعه حکومتداری الکترونیکی، امکانات گسترده ای را برای عینیت یافتن آرمان های حکومتداری خوب و سرمایه های اجتماعی (اعتماد و مشارکت) فراهم میکند.

لازم به ذکر است که منافع اشاره شده به علت وجود شکاف دیجیتلی ممکن برای کل جامعه محقق نشود، زیرا شکاف دیجیتالی میتواند با ایجاد فاصله میان استفاده کنندهگان فضای مجازی و سطح توانایی آنها و همچنان افرادیکه از این توانایی و امکان برخوردار نمیباشند؛ مانع پذیرش و نفوذ خدمات الکترونیکی و در نتیجه کاهش سرمایه گذاری شود.

یکی از معمولترین اثرات اقتصادی حکومتداری الکترونیکی؛ کاهش هزینه و صرفه جویی بودجه نظام توسط تغییر ساختار و اصلاح فرایندهای اداری و نیز فراهم نمودن مکانیزم کنترولی مناسب میباشد. براساس نتایج تجربی، این آثار به دلیل وجود اقتصاد مقیاس در بخش حکومت، به آرامی در اقتصاد ظاهر میشود.

همچنین ارائه مالیات الکترونیکی بهعنوان یکی از محصولات الکترونیکی میتواند در کنار افزایش درآمد مالیاتی، موجب افزایش شفافیت و کاهش فساد و در نهایت منجر به اعتماد عمومی بیشتر شود.

حکومتها با استفاده از تیکنالوژی معلوماتی ( ICT ) و دسترسی به پایگاههای اطلاعاتی در بخشهای مختلف میتوانند فرآیند اداری را سادهتر و مؤثرتر انجام دهند و همچنین از آن به عنوان یک وسیله ارتباط برای بهبود روابط با شهروندان استفاده کنند. به قول یکی از متخصص امور اقتصادی (چی لیو ) یک علت دو طرفه بین اینترنت و کاهش فساد وجود دارد همچنین نتایج مطالعه آنها حاکیست که:

۱) فساد همیشه برای توسعه اقتصادی اثرات بدی دارد که این اثرآت در اقتصاد باز بیشتر از اقتصاد بسته میباشد؛

۲) شیوع فساد ممکن به وسیله هر دو عامل آزادسازی و توسعه اقتصادی تحت تأثیر قرار گیرد؛

۳) با حکومت کردن نظام کارا، آزادسازی مالی موجب توسعه میشود و در غیر این صورت تأثیر معکوس بر جای میگذارد؛ و

٤ ) بین فقر و فساد رابطه مداوم وجود دارد و سبب ایجاد محرومیتهای بسیار به ویژه از لحاظ اقتصادی برای افراد جامعه میشود.

در چارچوب تجارت الکترونیکی، خدمات فراهم شده به وسیله حکومتداری الکترونیکی از طریق ویب سایتهایی که اطلاعات جامع را به منظور ایجاد ارزش افزوده بیشتر در معاملات ارائه میکنند،باعث بهبود تسهیلات، کارایی و شفافیت نیز میشود.

محققان و سیاستمداران از جمله باتناگار (۲۰۰۳)، استورگز (۲۰۰٤)، UNDP ( ۲۰۰۸ ) و همچنین وینود (۱۹۹۹) بیان میکنند که حکومتداری الکترونیکی میتواند نقش قابل توجهی در مبارزه با فساد از طریق بهبود اجرای قوانین، کاهش صلاحدید مقامات و افزایش شفافیت بازی کند که این امر به نوبه خود سبب مؤثریت و مقرون به صرفهتر کردن فعالیتهای نظام خواهد شد. یکی از مزایای بالقوهای را که میتواند برای کشورها به ارمغان آورد، رسیدهگی به فساد و کمک به حذف موانع سیستماتیک جهت حمایت از رشد فقر میباشد. موضوع مهم درخصوص حکومتداری الکترونیکی و اصلاح فرآیندها، کاهش تقاضای نیروی کار در بخش حکومتی میباشد. در ابتداء با توجه به سرمایه گذاری مورد نیاز و فعالیت های لازم جهت اجراء و توسعه نظام الکترونیکی؛ تقاضا برای نیروی کار افزایش یافته ولیکن در بلندمدت با اصلاح ساختارهای ارائه خدمات، تقاضا برای نیروی کار در بخش حکومتی کاهش مییابد که این مشکل با ورود بخش خصوصی و نیاز به نیروی ماهر به مرور زمان کاهش مییابد.

تطبیق حکومت الکترونیکی بهصورت مستقیم و غیرمستقیم موجب افزایش تولید ناخالص داخلی و رشد اقتصادی میشود. اثرگذاری مستقیم اجرای این طرح بهواسطه حجم بالای سرمایه گذاری مورد نیاز، بهصورت مستقیم در محاسبه تولید ناخالص داخلی وارد میشود. تأثیرات غیرمستقیم ارائه این خدمات نیز آنچناني که نتایج توسعه دیگر خدمات الکترونیکی موید آن است، بسیار بیشتر از اثرگذاری مستقیم این جریان میباشد. طوریکه افزایش بهرهوری ارائه خدمات، موجب افزایش جذب سرمایه خصوصی و خارجی، افزایش رقابت، اشتغالزایی و در نهایت بهره وری و رشد اقتصادی خواهدشد.

به طور خلاصه باید گفت حکومتداری الکترونیکی آثار و پیامدهای مختلف اجتماعی- اقتصادی به دنبال داشته که عبارت است از:

- بهبود و افزایش شفافیت و کاهش فساد؛
- بهبود رابطه شهروندان و نظام؛
- اعاده اعتماد به حکومت و ارائه خدمات اجتماعی قوی؛
- کاهش نابرابری در آموزش و اشتغال و بهبود مهارت ها و توانمندسازی (روستایی)؛
- بهبود ارائه خدمات و کاهش شکاف دیجیتالی؛
- افزایش بهره وری و اثربخشی در ارائه خدمات؛
- افزایش تعاملات داخلی نظام و بیرونی با شهروندان، کسب وکار و مشارکت شهروندان با فرصت برابر؛
- کاهش ترافیک شهری و افزایش رفاه و آسایش شهروندان.

**ادامه دارد...**

# دولتي سیستم کې د اصلاح ضرورت!

**س. سعید**

څرنګه چې په تېره شل کلنه دوره کې د جهاد او مبارزې له امله مجاهدین له مسلکي زدکړو لرې پاتې شوي او کال وړاندې له نظامي ډګر څخه ناڅاپه، حکومتي بهیر ته داخل شول، نو له ورځنیو چارو سره کافي بلدتیا نه لري. بل خوا اکثره پخواني مأمورین په کار پوهیږي، خو د مجاهدینو په شان اخلاص نه لري.

حال دا چې د دندې تر سره کولو لپاره اخلاص او پوهه دواړه لازم او ملزوم دي. کله چې حضرت یوسف علیه السلام له پاچا څخه د دندې غوښتلو وړاندیز وکړ، نو د (حفیظ) صفت یې پر (علیم) باندې مقدم کړ. معنی دا چې؛ تر پوهې وړاندې اخلاص شرط دی او له همدې امله اسلامي امارت هم د اکثرو ادارو مسؤلیت مخلصو علماؤ ته وسپاره. سره له دې چې هغوی یې مسلکیان نه دي، خو د اخلاص په قوت یې داسې کار روان کړی، چې ټول یې په خپلو سترګو وینو. البته دا په هغه صورت کې، چې مسلکي خلکو کې مخلصین نه وي. کنه ښه خو دا ده، چې هم مسلکي وي او هم مخلص او امانت کار.

نو له همدې امله لازمه ده، چې حکومت ټولو دولتي مأمورینو ته د فکري او مسلکي زدکړو پروګرامونه چمتو کړي. پخوانیو کارکوونکو ته دې فکري او تربیوي حلقې جوړې شي، تر څو د تېرو شلو کلونو د ناوړه تبلیغاتو اثر پکې له منځه ولاړ شي او ذهنونه یې وویننځل شي. که څه هم اکثرو ادارو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر له خوا داعیان تاکل شوي، خو چندان فعالیت نه لري. همداراز؛ مجاهدینو ته باید په خپلو برخو کې د مسلکي زدکړو د لنډمهاله او اوږدمهاله درسونو ترتیب برابر شي، تر څو د اخلاص تر څنګ، د مسلکیتوب صفت هم تر لاسه کړي او خپلې ورځنۍ چارې په ښه توګه تر سره کړی شي.

د دغو روزنیزو درسونو یوه فایده به دا هم وي، تر څو د اوسنیو او پخوانیو کارکوونکو تر منځ بې اعتمادي ختمه شي او ټول په پوره اخلاص او وروروليي د خپل نظام او ملت لپاره خدمت وکړي.

ځکه چې د همدغو نیمګړتیاوو له امله د مراجعینو چارې له ځنډ او خنډ سره مخ کیږي او ملت ته لازم خدمات نه شي وړاندې کېدلی، چې دغه نیمګړتیا بیا د ولس او نظام تر منځ د واټن او بې اعتمادي سبب ګرځي.

متأسفانه، اوس اکثره ادارو څخه ولس شکایت کوي او وایي چې موږ د اسلامي امارت راتلو ته ډېرې هیلې درلودې، خو اوس هم د جمهوریت په شان ځورول کیږو!

نو باید چې د دولتي تشکیلاتو د څېړنې او ارزونې لپاره هم یوه ځانګړې کمیټه وګمارل شي، تر څو دولتي سیستم ساده او مراحل یې را لنډ کړي.

د مخلصو او مسلکي کسانو د نه شتون تر څنګ؛ د چارو د ځنډ او خنډ یو بل سبب اداري پاړسوب هم دی. یعنې د یوې عادي چارې تر سره کولو لپاره یې دومره اوږده مراحل جوړ کړي، چې د ټولو طی کول حتماً ورځې، اونۍ او حتی په میاشتو وخت نیسي. د تېر رژیم تګلاره دا وه، چې خلکو ته به یې د کار زمینه برابروله، نو همدغه دولتي ماشین ته به یې ور اچول، بل ځای یې نه درلود. نو همدغه تګلاره یې د چارو د پېچلتیا او اداري پاړسوب لامل شوه. دوی به وخت پر وخت، د چارو د ښه تر سره کولو په نامه نوې اداري رامنځ ته کولې، خو برعکس هغه به د چارو د ځنډ لامل شوې، ځکه چې مراحل به نور هم زیات شول. نو باید چې د دولتي تشکیلاتو د څېړنې او ارزونې لپاره هم یوه ځانګړې کمیټه وګمارل شي، تر څو دولتي سیستم ساده او مراحل یې را لنډ کړي.

یوه بله ستونزه دا ده، چې عام ولس نه شي کولی په اساني له مسؤلینو سره وویني. دا چاره د امارت په لومړیو کې ښه وه، لیدل اسانه وو، خو اوس ورځ تر بلې زموږ نوي چارواکي هم د پخوانیو عادت اخلي، چې ښایي د دې علت هم دا وي، چې پخوانیو مأمورینو د احترام او اداري اصولو په نامه زموږ ملګرو کې هم تکبر پیدا کړی. د دې پر ځای چې د هغوی د فکري او تربیوي روزنې لپاره کار وشي، برعکس زموږ ملګري ترې متأثره شوي او د هغوی پېښې یې شروع کړې. خو ولس د هغوی له کړنو سترې دی، د امارت راتګ ته ټول خوشحاله وو، د لسو کالو پخوانۍ دوسیې یې رابرسېره کړې چې حل به شي، خو د اسلامي امارت راتګ یې هم ستونزه ور حل نه کړه. سره له دې چې د مشرتابه له خوا مکرر همدا توصیه کیږي، چې ولس سره ښه چلند کوئ، ستونزو ته یې رسیدګي وکړئ، دروازې ځان پسې مه بندوئ، ولس سره کښېنئ او ولس ته خدمات وړاندې کړئ، د همدې ولس په همکاري الله تعالی فتح رانصیب کړه. خو متأسفانه چې تکبر او غفلت په زیاتېدو دی. دا چې هماغه پروني بې وزله علماء او طالبان؛ نن په رېنو موټرو کې ګرځي، دا د ټللیو شهیدانو د وینو برکت او د همدې ځوربدلي ملت د همکاري نتیجه ده. خپل شهیدان ملګري او کړیدلی ملت باید تل په یاد ولرو، تر څو له خپله مسؤلیت څخه غافل نه شو.

وروستی خبره دا، چې په دولتي ادارو کې باید عام هېوادوال هم مدغم شي. هغه چې د تېر رژیم پر مهال هم د لوړو رشوتونو او واسطو نه درلودلو له امله بې دندو ګرځېدل، یا یې خپله زړه نه غوښتل چې یاد نظام کې کار وکړي او نن هم بې دندو ګرځي، ځکه چې خالي بستونه نشته. عام خلک ګیلمن دي، چې پخواني کارکوونکي هم ټول پر خپلو دندو لګیا دي او طالبانو هم دندې تر لاسه کړې، خو زموږ نوبت نه راځي. په دې ملت کې ډېر داسې لایق او دیندار خلک شته، چې د (حفیظ او علیم) دواړه صفتونه پکې موجود دي. اسلام هم همدا حکم کوي چې کار باید خپل اهل ته وسپارل شي او د اهلیت لپاره دغه دواړه صفتونه شرط دي.

خدای دې وکړي، چې مسؤلین دغو ستونزو ته متوجه او د حل لپاره یې سمدستي اقدامات وکړي.

# پل دې بختور شه...!

**سالمزي**

د حنا رباني کر په مشرۍ د پاکستاني پلاوي سفر به مثبتې پایلې ولري که نه دا به وخت ثابته کړي خو دا چې حنا رباني په یوه سیاسی کورنۍ پوري تړاو لري او په سیاسی دیپلوماسۍ کې پراخه تجربه لري پدې حساسو شرایطو کې افغانستان ته راتګ به ممکن له همدې هڅو وي چې د پاکستان پالیسي له سره ترمیم او د افغانستان سره په ۴۳ کلن غلط سیاست کې نرمښت راولي افغانان هم پدې هیږي چې د پاکستان د خارجي او داخلي سیاست واک او اختیارات د اردو او آی اس آی پلاس کې دي که څوک له صحنې څخه لرې کوي او که څوک د واک تر ګدۍ رسوي خو شاید هغوی اوس دا درک کړي وي چې د افغانانو په خلاف زړه پالیسي نوره له چلښت لویدلې او په نوې له سره غور کوي ځکه چې دوی د افغانستان په نابودۍ کې د خپلې بقا په لټه کې وو خو هر کله چې دغه غلطې پالیسۍ او غلط سیاست پاکستان د اقتصادي بحران او په خړلیست کې د شاملیدو تر سرحده ورساوه ځکه یې د حنا رباني کر په مشرۍ پلاوی افغانستان ته واستاوه ترڅو د افغان چارواکو غوصه سړه کړي کومه چې څه موده وړاندې د پاکستاني پولیسو لخوا د افغانانو د ځورولو ظلم او تیری ویډیوګانې خپرې شوې او د افغان ولس قهریې پارولی ؤ همدا رنګه د اسلامي امارت واک ته د رسیدو سره سم که ډیورنډ لاین ته خیرمه ځینی پوځي شخړې اوبوړنوونکي پیښې رامنځ ته شوي چې د افغان غیرتي ملت احساسات یې د پاکستان په خلاف پارولي ؤل بیرته عادي حالت ته راوستل هم د دغه پلاوي د سفر یوه مهمه موخه وي.

افغانان او پاکستانیان ګډ دیني او کلتوري مشترکات لري او د وخت د شوروي اتحاد، د برمنډ پوځي یرغل په مهال یې افغانانو ته پخپله خاوره کې ځای ورکړی د روسي یرغلګرو په وړاندې جهاد او جګړه یوائې د افغانستان د آزادۍ لپاره نه بلکې د پاکستان د بقا لپاره هم یو ازموینه وه چې د افغان مجاهدینو د بې دریغه او لامثاله قربانیو په پایله کې د سور ښاد د اړې ورماتې او شوروي اتحاد په روسي بدل کړ د نړۍ له کړې څخه د کمونیزم جنازه پورته او د برلین د یوال هم ونړید او شپږویشتو محکومو هېوادونو د شوروي اتحاد له کومې آزادي واخیسته چې د پاکستان د هغه وخت پوځي واکمن جنرال ضیا الحق هم پخپله پدې اعتراف کړی اوویل به یې چې جهاد افغانستان دفاع پاکستان نو پاکستان ته هم په کار ده چې د افغانانو سره په خپل سیاست له سره غور وکړي او پرې نږدي چې د دواړو ګاونډیو هېوادونو اړیکې پخپلو کې خړې او د نورو په ګټه او د دوی په زیان تمامې شي صادقانه اوریښتني سیاست او پالیسي غوره کړي او له دوه مخي سیاست لاس واخلي دیني علماء کرام چې د افغاني ټولنې یو نه بیلیدونکی جز دی او د همدغه علماوو په قیادت کې مو د وخت شوروي اتحاد انګریزي ښکیلاک او پدې وروستیو کې د امریکا په مشرۍ ستر فرغوني ځواک ته ماتې ورکول د پنځلسمۍ پیړۍ معجزه او د افغانانو د نه ماتیدونکي ایماني ځواک څرګندونه کوي اوس چې واک د همدوی په لاس کې دی په ټیټه سترګه مه ګورۍ دوی له هر چا په حکومت، سیاست، امنیت، ټولنیز عدالت او د خپل ملت په ښه او سالمه روزنه او د هېواد په پرمختګ ډیر ښه پوهیږي دا د احمدشاه ابدالي میرویس خان نیکه افغان سیدجمال الدین ایوب خان، ملامشک عالم اندړ غازی وزیرمحمد اکبرخان ملا محمدعمر مجاهد او داسي نورو په زرګونو اسلافو اولاد او نسل دی چې نړۍ ورته ګوته په خو له ده دا د زرغونې انا میرمن ملالې ناهید شهید جمیلې او داسې نورو په زرګونو باتورومؤمنو او ننګیالیو میندو زامن او وړونه دي چې تاریخ به یې هیڅکله هم له یاده ونه باسي له دوی سره دښمني له اورسره لوبې دي موږ پخپلو غیرتي خویندو او میاندو ویاړو چې موږ ته یې پخپله غیږ کې د قربانۍ درس راکړی لکه چې د میوند په ډګر کله چې د انګریزانو سره جګړه سخته شوه او غازیان مایوسه شول میرمن ملاله د جګړې ډګر ته راځي او دا لنډۍ زمزمه کوی چې وایې:

که په میوند کې شهید نشوې !
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

غازیان په جذبه کې راځي او انګرایزنو ته ماته ورکوي او یا دا چې که له زلمونه پوره نشوه! افغانستانه جنګۍ به دې ګټینه د حنا ربانی کر پل دې بختور شي نارینه خو ډیر لاړل او راغله خو یوه یې هم مثبته پایله نلرله امیدوار یو چې د حناربانی کر افغانستان ته پدې حساسو شرایطو کې دا سفر ګټور تمام شي په همدې هیله ومن الله توفیق

# د ډالر د زوال پیل!

**اسد مبارز**

تېره ورځ د روسيې ولسمشر پوتين وويل چې د بريکس (BRICS) په نوم کرنسي جوړوي تر څو پخپلو منځونو کې سوداګري د ډالر پر ځای په همدې نوې کرنسي وکړي.

بريکس د پنځو انګليسي تورو (BRICS) څخه جوړ د برازيل، روسيه، انديا، چين او ساوت (جنوبي) افريقا مخ پر ودې هېوادونو سازمان دی چې د امريکا او اروپايي هېوادونو پر وړاندې جوړ شوی دی؛ دا پنځه هېوادونه په اقتصادي لحاظ د مخ پر ودې هېوادونو په قطار کې راځي او د نړۍ نږدې ۴۱ سلنه نفوس او تر ۲۷ ټريليون ډالرو په اندازه اقتصاد لري.

دا پنځه مخ پر ودې هېوادونه باور لري چې د دومره ډېر نفوس او اقتصاد سربېره ولې د امريکا او اروپايي هېوادونو سازمانونه (نړيوال بانک + د پيسو نړيوال صندوق) پر دوی د اقتصادي تګلارو له مخې راج وچلوي، هماغه وو چې په ۲۰۱۹ کال کې يې د بريکس په نوم بانک او سازمان جوړ کړ. دا هېوادونه کلنۍ غونډه کوي او نوې پريکړې کوي. تېر کال يې د بريکس په نوم بانک کې سرمايه واچوله تر څو ترې د ستونزو سره مخ کېدو په صورت کې ګټه واخلي او ددوی له جملې اقتصادي ستونزو کې ايسار هېواد سره مرسته وشي.

دا نو واقعيت دی چې د مخ پر ودې هېوادونو پر وړاندې امريکا او اروپا تل داسې پريکړې کړې چې اقتصادي وده يې ټکنۍ کړې؛ د بېلګې په ډول د کاربن توليدولو پر وړاندې ددوی دريځ چې د چاپېريال د ککړتيا پر بهانو يې غوښتل تر څو ددې هېوادونو فعاله فابريکې د زيات کاربن توليدولو پر تور محدودې او توليدات يې کم کړي تر څو يې اقتصادي وده ټکنۍ شي. د بريکس پنځو هېوادونو نه يوازې د دوی دا خبره و نه منله بلکې نور يې هم د خپلو فابريکو توليد زيات کړ او د انرژۍ لپاره يې لا له ذغالو هم ګټه واخيستله.

د اوکراين او روسيې له جنګ راهيسې روسيه ډېره هڅه کوي چې نړيواله سوداګري پر ډالر بنديز ولګوي؛ ددې لپاره لومړۍ له روسيې څخه پر روسي روبل باندې د تيلو اخيستلو باندې ۲۵ سلنه تخفيف اعلان کړل او دادی تازه يې د بريکس په نوم کرنسي جوړولو اعلان وکړ او جالب دا وو چې ددې کرنسۍ تر شا يې د سرو زرو اېښېدلو تابيا نيولې. ددې لپاره د بريکس هېوادونو له تېرو دريو کلونو راهيسې لا د سرو زرو اخيستل پيل کړي دي چې هدف يې ددې کرنسۍ او تر شا د سرو زرو اېښودل څرګند کړ. بريکس داسې تابيا نيولې چې د سرو زرو د ارزښت مطابق کرنسي به چاپوي تر څو يې ارزښت د انفلاسيون له وجې ثابت پاتې شي او هر هېواد که دا کرنسي ورته راوړي نو متبادل سره زر يې هم بدل کې ورکوي چې دا کار ددې کرنسۍ ارزښت او باور زياتوي. د نړيوالې سوداګرۍ د تاداياتو لپاره د امريکايي سويفټ سيستم پر وړاندې يې هم د خپل سيستم فعالولو اعلان وکړ. که چېرې بريکس د نوې کرنسۍ او سويفټ سيستم پر وړاندې د بل سيستم فعالولو کې بريالي کېږي نو واضح ده چې پر نړۍ د امريکايي ډالر راج ته صدمه رسېږي او هېوادونه به ورو ورو د خپلو اسعارو پشتيباني لپاره د ډالرو پر ځای د بريکس کرنسي چې ارزښت يې ثابت پاتې وي، ږدي.

له دې ورهاخوا سعودي هم د بريکس سازمان سره د يوځای کېدلو غوښتنه کړې ده؛ د سعودي دې کار زه بيخي حيران کړی يم او له تېر څه وخت راهيسې سعودي او امريکا د يو بل پر وړاندې پريکړې کټ مټ د سوړ جنګ په څېر ښکاري. د سعودي او امريکا اړيکې د روسيې او يوکراين له جنګ وروسته خرابې شوې. سعودي په مشرۍ چې کله اوپيک (د تيلو ستر صادروونکي هېوادونو سازمان) د ورځې د ۲ ميليون بيرله تيلو توليد کم کړل، اروپا کې يې سخت منفي تأثير وکړ او د تيلو بيې لوړې کړې چې د تيلو بيې بيا د نورو اجناسو پر بيو مستقيم اغيز لري. انفلاسيون يې رامنځته کړ.

امريکايي ولسمشر بايډن د سعودي ددې پريکړې پر وړاندې يوه مطبوعاتي کنفرانس کې وايي چې د سعودي دا پريکړه به بدې بايلې ورته ولري؛ په دې اړه ما يوه ليکنه هماغه وخت هم کړې وه چې ممکن امريکا پر سعودي باندې د وسلو خرڅول او امنيت ساتل يې بند کړي، اوس نو داسې ښکاري چې امريکا همدا پريکړه وکړي خو ددې پريکړې په کولو سره امريکا د پيټروډالر تړون له منځه وړي چې ددې تړون له مخې سعودي خپل تيل بايد پر ډالرو خرڅ کړي او بدل کې يې سعودي ته امنيت خوندي او وسلې پر خرڅې کړي. اوس که امريکا همدا پريکړه کوي نو سعودي بيا مجبور نه دی چې د پيټروډالر تړون ته ژمن پاتې شي. که بريکس هېوادونه سعودي له ځان سره ملګرې کوي نو واضح ده چې تيل به د بريکس پر کرنسۍ خرڅوي چې دا کار هم ډالر ته صدمه رسوي او پر نړۍ راج يې نګوي. ماته له وضعيت داسې ښکاري چې ډالر نور پر نړۍ د راج کولو جوګه نه دی او نړۍ ورو ورو بېرته پنځوس کاله وروسته (د اسعارو تر شا د سرو زرو پشتيباني) ته ستنېږي چې د اوسنيو اړتياوو (ډيجيټل، الکترونيکي او...) په پام کې نيولو سره هغه کرنسۍ چې سره زر يې تر شا اېښودل کېږي د نړۍ باور ژر او ډېر ترلاسه کوي.

# دافغانستان له ستوريو، يو ستورى!

**عظمت**

استاذ صديق الله رښتين د مولوي تاج محمد زوی دی چې په ۱۲۹۸هـ ش کې يې د ننګرهار د غازي اباد په سره کمر کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. پلار يې د دين عالم او په مهتمم سره مشهور و. رښتين لومړنۍ زده کړې په خپله کورنۍ کې کړې دي خو د نورو زده کړو لپاره لومړی د ننګرهار د هډې نجم المدارس ته ولاړ، هلته په تعليم بوخت شو او بيا په ۱۳۱۵ هـ ش د کابل عربي دارالعلوم کې داخل او درې کاله وروسته له منځنۍ دورې څخه فارغ شو. استاذ په پښتو، دري، عربي او اُردو باندې پوهېده.

رښتين د زده کړو پر مهال اصلاح ورځپاڼه لوستله او له خپرونو سره يې مينه لرله. نو کله چې له عربي درالعلومه فارغ شو، په هماغه کال د پښتو ټولنې غړی شو، چې په ۱۳۲۰ هـ ش د قواعدو د څانګې مدير وټاکل شو. همداشان نورې ډېرې دندې يې هم په پښتو ټولنه کې ترسره کړې، چې آن دوه ځله د يادې ټولنې رئيس پاتې شو. په پوهنې وزارت کې يې د مشاور دنده پر مخ بوتله او د کابل پوهنتون کې يې د استاذي چارې ترسره کړې. د پکتيا ولايت وړانګه جريده يې تاسيس کړه چې مدير يې هم و. همداراز د فراه (سيستان) جريده يې تاسيس او د مديريت چارې يې ترسره کولې. د زيري جريدې مسؤل هم پاتې شوی.

استاذ د هېواد ورځپاڼې چلوونکی هم پاتې شوی، چې هغې ته يې ښکلا وربښلې وه. او استاذ له راديو سره هم همکاري کوله او د ځانګړيو پروګرامونو مسؤل و. دروند استاذ اتحاد جماهير شوروي، اېران، مصر، هندوستان او پېښور ته سفرونه کړي او يونليکونه يې هم کښلي دي...

۷مخ




- هيواد :

د اوپيک د سرمشريزې په پيل کې احتجاجونه شوي .

- چيلک انداز :

نو په دې دز او غپ کې به هرو مرو ورسره د شرشمي تيلو قېمتونه هم آسمان ته و خېژي !!!

- د جاپان د دفاع وزير :

د شمالي کوريا بالستيک توغندي د امريکا خاوره ويشتلی شي .

- چيلک انداز :

تر اوسه خو خير او خيريت دي ، نو بيا ولې بې وخته دا د امريکا غريب او مظلوم ولس پرې ډاروئ !!!

- يوناما

يوناما له ۲۸ ميليونو افغانانو سره مرستې کوي .

- چيلک انداز :

چې دغه خبره به رښتيا وي که دروغ ؟؟؟!!!

هسې نه چې هاغه د اشرف غني د څلور کيلو غنمو مرسته شي !!! (( چهار کيلو گندم براى گوشنه گگ ها )) !!!

- افغان جرمن اينفو :

اروپا ته څنګه قانوني او اسانه لاړ شو؟

چيلک انداز :

بس ساده او سيده او پرته له پاسپورت او کرايې،

د طيارې ټاير پورې ځان کلک چار اسپه کړه او نور نو پرې ورشېوه شه !

او د چا د پلار کيسه کې هم مه اوسه !!!

- افغان بيسيم:

صفحه رسمى افغان بيسيم را لايک نماييد و به قيد قرعه برنده موبايل هوشمند شويد.

- چيلک انداز :

اى بابا، ما و ايقه طالع مفت !

در خانه براى بچه ها گفتيم ، مگر باور آنها هم نيامد و پوزخند کردند !!!

- هيواد ورځپاڼه :

- شريعت ورځپاڼه : کمک نقدي يونيسف با ۱۱۱هزار خانواده نيازمند.

- چيلک انداز :

امي کاکا يونيسف هم مثليکه خوب آدم بود !

- سنتکام :

دو راکت بر پايگاه نظامى آمريکا در سوريه شليک شد .

- چيلک انداز :

بابا ، دو تا گگ راکت چه باشد که اينقدر چيغ و پيغ کنيد !!

- زلنسکى :

روسيه نتوانسته راه براى شکست ما پيدا کند .

- چيلک انداز :

مثليکه تو و پوتين خان هر دوى تان خوب پخته سليپ کردين !!!

بى بى سى پښتو : پاسپورت جوړول .

- پاسپورت ته خو زموږ په کلي کې د تېښتې او ترپ جواز سير وايي !

نو مو خوښه چې اماراتو ته ورتښتئ او که د سعوديانو عربستان ته !!!

# له خپلوانو سره د خيانت او پرديو سره د ملګرتيا انجام

**عبدالرحمن محمود**

عرب يو ضرب المثل لري چې « التاريخ عِبَرٌ » تاريخ عبرتونه دي، لوستونکي بايد پند ورڅخه واخلي ، کوم ملتونه چې د خپل تير تاريخ څخه عبرت أخلي، پر هغوی ناکامي د دوهم ځل لپاره نه تکرارېږي، ددې حديث شريف چې محمد عليه الصلاة و السلام فرمايي[ لايلدغ المؤمن من جحر واحد مرتين.الحديث] مؤمن له يوه غاره دوه ځله نه چيچل کيږي، ددې حديث شريف فقهه هم دغه ده چې مؤمن له خپل تير تاريخ څخه عبرت اخلي، د بيا لپاره د بدنامۍ او ناکامۍ عمل نه تکراروي.

ابن الأثير رحمه الله په خپل تاريخ «الکامل» کې ليکي: چې کله مغولي بادشاه چنګيزخان د بخارئ پر ښار باندې هجوم ور وړ، د ښار و خلګو ته يې مکتوب وليږه، که هر څوک زموږ په صف کې و درېږي د هغه سر او مال به په امن وي.

ددې اعلان سره د بخارئ د ښار مسلمانان پر دوو برخو و ويشل شول.

يوې ډلې و مغولي بادشاه چنګيزخان ته د تسليمۍ څخه إنکار وکړ ، او پر دې يې إصرار کاو چې بايد د خپل ښار او کورونو أو ناموسونو څخه تر مرګه، دفاع وکړو، تر څو چې يو سړي هم ژوندی پاته وي جنګيږو به.

دوهمې ډلې د مغولي بادشاه له ويرې، تسليمۍ او غلامۍ ته غاړه کيښوده.

چنګيز خان چې د بخارئ د مسلمانانو تر مينځ په يې اتفاقۍ او تفرق خبر سو ، و هغې تسليم شوي ډلې ته يې خط وليږه که چيري تاسو د هغه جنګ کونکو په مقابل کې زموږ همکاري وکړئ، د بخارئ او د اطرافو واک به يې تاسو ته درکړو ، سُلطة او حکم به ستاسو وي.

و چنګيز ته تسليم شويو ګواکيانو موافقه وکړه او لښکرې يې تياري کړي، د خپلو مسلمانانو سره په جنګ اخته شول، مغولي لښکرو يې سيل کاوه ، د يوه ښار او يوې عقيدې خاوندانو په خپل مينځ کې سره وژل ، چنګيز خان يې انتظار کاوه چې څوک به ميدان ګټي.

جنګ پای ته ورسيد ،خائنان او د چنګيز غلامان کامياب شوو ، خپل مسلمانان يې د چنګيز خان لپاره او د واک حاصلولو لپاره په شهادت ورسول.

چيګيزخان پر خپل لښکر رږغ وکړ چې اوس نو دوی خالي سلاح کړئ، او ورپسې يې ذبح کړئ، مرۍ يې ور غوڅې کړئ.

او بيا يې ددې خائنينو په هکله خپله هغه مشهوره مقوله وويل( که پر دوی باور کيدلای سوای، دوی به د خپلو ورونو سره ، او د خپل ښار او عقيدې د ملګرو سره خيانت نوای کړي)

همدا د خائنانو انجام سو ، لومړی يې د خپلو مسلمانانو په وينو لاسونه سره شول ، د مؤمنانو قتل عام يې وکړ، ورپسې دوی هم د چنګيز لخوا ووژل شوه.

همدلته د جناب اکرم صلى الله عليه وسلم و هغه حديث شريف ته متوجه کيږو چې فرمايلي دي[ من اعان ظالما سلطه الله عليه.الحديث] که چا د ظالم ملګرتيا وکړه ، أللـه رب العزت به هماغه ظالم پري مسلط کوي، او د هغه په لاس به جزاء ورکوي.

په دې وروستيو کې هماغه د بخارئ د خائنانو او چنګيز خان قيصه د غرب پر ګواکيانو مکرره شوه ، امريکا په عراق کې هم خپل ګواکيان د کار اخيستلو وروسته، ذليل پريښودل ، او به أفغانستان کې هم.

همدا اوس د امريکا او د هغوی د متحدينو په کمپونو کې اکثريت هغه عرب ، او افغانان پراته دي چې غربيانو ورته د تابعيت وعدې ورکړي وي، او دوی ورته په بدل کې خپل د عقيدې ورونه وژلي او تحقير کړي وو، نن يې نه دين سو او نه يې دنيا.

هم د رب العالمين په حضور کې مجرمين دي، او هم د خپل أولس سره د خائنينو په تاريخ کې ثبت شول.

# دالجـزائر مـلاله!

**محمد جاوېد حنيف**

لالـة فاطمـة نسـومر پيدا(۱۲٤٦هـ/۱۸۳۰)م کال کې د رحمها الله تعالى د الجزائر هيواد داسې مېرمن ده، لکه زموږ خدای بښلې ملاله ميوندۍ، البته د فاطمې د ژوند تفصيلي حالات او جګړو کې فعاله او قائدانه برخه شتون لري. فاطمه د فرانسوي يرغل خلاف د الجزائري ولس د مقاومت سمبول ګڼل کېږي. نوموړې د فرانسويانو پرخلاف يوه جګړه کې د مجاهدينو د (۷۰۰۰) کسيز لښکر قومنده په لاس کې لرله، چې د فرانسويانو له (٤٥۰۰۰) کسيز لښکر سره يې مقابله کوله. دا مهال د فاطمې عمر ايله (۲۳) کاله وه. پايله کې يې فرانسويانو ته سخته ماتې ورکړه، ويل کېږي دې جګړه کې د فرانسوي پوځ (۱۰) جنرالان وژل شوي وو!

فرانسوي مؤرخ (لوی مسينيون) فاطمې نسومر ته د «د جرجرة جان دارك» لقب ورکړی و. جان دارک (Jeanne d›Arc)وتلې پخوانۍ فرانسوۍ اتله ده. او جرجرة د الجزائر شمال کې د غرونو لړۍ ده. خو فاطمې دا لقب نه خوښوه، هغې ځان ته (د جرجرة خولة) لقب خوښوه. چې مطلب يې خوله بنت الأزور د مشهور مسلمان مجاهد (ضرار بن الأزور) خور وه. فاطمه په کال ۱۸٦۳م کې په (۳۳) کلنۍ کې وفات سوه. رحمهم الله جميعاً. ماخذ: د اسلامي تاريخ زرور سپاهيان.

# شعر او ادب

## غزل

**حکیم سنایی غزنوی (رح)**

ای سنایی جان ده و در بند کام دل مباش
راه رو چون زندگان چون مرده بر منزل مباش
چون نپاشی آب رحمت نار زحمت کم فروز
ور نباشی خاک معنی آب بی حاصل مباش
رافت یاران نباشی آفت ایشان مشو
سیرت حق چون نباشی صورت باطل مباش
در میان عارفان جز نکتۀ روشن مگوی
در کتاب عاشقان جز آیت مشکل مباش
در منای قرب یاران جان اگر قربان کنی
جز به تیغ مهر او در پیش او بسمل مباش
گر همی خواهی که با معشوق در هودج بوی
با عدو و خصم او همواره در محمل مباش
گر شوی جان جز هوای دوست رامسکن مشو
ور شوی دل جز نگار عشق را قابل مباش
روی چون زی کعبه کردی رای بتخانه مکن
دشمنان دوست را جز حنظل قاتل مباش
در نهاد تست با تو دشمن معشوق تو
مانع او گر نه‌ای باری بدو مایل مباش

## قناعت

**شاه محمود درویش**

زه په دې فخر کومه چې انسان یم
شکرشکر چې رښتینی مسلمان یم
دا په ماهم د الله (ج) مهرباني ده
زیږېدلی چې په کورکې دافغان یم
مېړنتوب کې مي مثال په دنیا نشته
زه د سترو کارنامو یو قهرمان یم
د چا حق باندې تیری هیڅکله نه کړم
هریو حکم ته زه ژمن د پاک قرآن یم
د چا ظلم ته مې سرټیټ کړی نه دی
فطرتي داسې هست کړی پاک سبحان یم
آزادي زما لیلا زه یې مجنون یم
دغه مینه کې زه تیر تل له خپل ځان یم
دغه لار کې آزموینه ما ورکړې
په تاریخ کې تل فاتح ددې میدان یم
د نړۍ هریرغلګرمې ګوندې کړی
دغه کار کې نړیوالو ته عیان یم
که خوک بیا مې کوږ نظر مالت ته وکړي
زه په داسې دښمن تندر د آسمان یم
ګاونډیان دې ګاونډتوب راسره پالي
حسن نیت ته یې د ښه نیت په بیان یم
نړیوال دې هم په کم نظر نه ګوري
زه لمسی د (احمدشاه) تراوسه ځوان یم
که څوک شومې موخې مونږ لپاره پالي
بیا یې دوه دیرش غاښونو ته سندان یم
چال دوکه، ظلم او زیاتی منلی نه شم
زه د حق او حقیقت په لار روان یم
ای درویشه په خپل حق قناعت ښه دی
زه د بل حق کې خلاف دهر زیان یم

## د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سپېڅلی ژوند

# د مالک بن عوف رضي الله عنه اسلام راوړل

لیکنه: محمود شلبي / ژباړه: محمد علي عظمت / ۷۲مه برخه



او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هوازن وفد ته وویل: او د مالک بن عوف په اړه یې تری وپوښتل، چې هغه څه وکړل؟ نو هغوی وویل: هغه په طائِف کې له ثقیف سره دی.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغو ته وویل: که مالک بن عوف ما ته مسلمان راغی، نو مال او اولاد به یې ورکړم او سل اوښان به هم ورکړم.

مالک په دې خبره عمل وکړ، نو د شپې د هغه لوري ته ور ووت روان شو، په خپل آس سپور شو، ښه یې چټک (پونده) کړ... نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ور ورسېده، هغه یې په جَعْرانه کې ومونده، نو هغه د ده کورنۍ او مال ور وسپارل او سل اوښان یې هم ورکړل.

او هغه اسلام راوړ او خپل اسلام یې ښه وباله!!

او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم له غوره سیاست څخه و، چې د خلکو زړونه یې ساتل.

هغه چې کله اسلام راوړ، نو دا بیت یې ووایه:

**مَا ان رَأیتُ وَلاسَمِعْتُ بمثله**
**فی الناس کلهم بمثل محمد**

ژباړه: ما په ټولو خلکو کې نه د محمد صلی الله علیه وسلم غوندې شخص لیدلی او نه مې د هغه په څېر د کوم کس په اړه اورېدلي.

د ده له قومه چې کومو کسانو ایمان راوړی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم دَئْ پرهغو مشر وټاکه، نو ده هم د هغو پر مټ له ثقیف سره جهاد کولو، څو یې هغوی (بنو ثقیف) ښه تنګ کړل.

### د هوازن د فئ وېشل

او کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حُنین د خلکو له بندیانو بېرته ور سپارلو څخه وزګار شو، په سپرلۍ سپور شو، خلک ورپسې شول، ویل یې: یا رسول الله! زمونږ د اوښانو او مېږو فئ رابانندې تقسیم کړه، تر دې چې ونې ته په پناه وړلو یې اړ وېست، نو څادر تري وتښتول شو، نو هغه وویل: «اې خلکو! زما څادر زما تر شا بېرته راکړئ، په الله جل جلاله قسم، که چېرته د تهامه د ونو هومره (څاروي) ستاسو وای، هغه به مې پر تاسو وېشلي وو، بیا تاسو نه زه بخیل موندلی وم، نه بې زړه او نه دروغژن».

بیا د خپل اوښ ترخنګ ودرېده، د ګوتو منځ د هغه له کوو (سنام) څخه راواخیست، بیا یې هغه پورته کړ او ویې ویل: «اې خلکو! په الله جل جلاله قسم، له ما سره ستا دومره د .... فئ هم نشته، خو پنځمه برخه ده. او پنځمه برخه هم تاسو ته درکېدونکې ده...».

### هغه کسان چې په زړونوکې یې الفت اچولی شي

او رسول الله صلی الله علیه وسلم مولفة القلوب (چې په زړوکې یې الفت اچولی شي) او هغو د قریشو مشران وو، څو د هغوی او د قوم زړونه مألوف شي، ښه ډېر شیان یې ورکړل.

ابوسفیان ته یې سل اوښان ورکړل، د هغه زوی معاویه ته یې هم سل اوښان ورکړل، همداشان حکیم بن حزام ته یې سل اوښان ورکړل او حارث بن کلَدَه ته یې هم سل اوښان ورکړل... .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې څه غوښتل، هغه یې قریشو او نورو عربو قبایلو ته ورکړل او انصارو ته یې هیڅ هم ور نه کړل!

### اې الله جل جلاله! په انصارو رحم وکړې!

او رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له دې ورکړې څخه څه ورکول غوښتل، هغه یې قریشو او نورو عربو قبیلو ته ورکړل او په دې کې یې انصارو ته څه برخه ور نه کړه، انصارو په خپلو زړونو کې څه وموندل (په زړونو کې یې څه تېر شول)، تر دې چې ګډې وډې خبرې زیاتې شوې. له دوی نه یوه تن وویل: په الله جل جلاله قسم، رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل قوم سره مخامخ شو.

نو هغه ته سعد بن عباده ورغلو، ورته ویې ویل: یا رسول الله! د انصارو دې ډلې ستا په اړه په خپلو زړونو کې څه تېر کړي (موندلي) دي، چې تا په دې فئ کې، کوم چې تا ترلاسه کړي، تصرف کړی دی، د خپل قوم ترمنځ دې وېشلی دی او همداشان د عربو قبیلو ته دې ستري ستري برخې ورکړې دي. او د انصارو دې وګړیو ته دې هیڅ هم نه دي ورکړ!

هغه ورته وویل: «سعده! ته په دې اړه څه وایې؟»

ده وویل: اې د الله رسوله! زه هم له خپل قوم څخه یم.

هغه وویل: «ما ته ستا قوم دلته راغونډ کړه؟»

بیا سعد ووت، په هغه ځای کې یې انصار رضی الله عنهم راجمع کړل. نو له مهاجرو څخه هم ځینې کسان راغلل، هغوی یې پرېښودل، ننوتل او یو شمېر نور راغلل، هغوی یې بېرته ولېږل.

کله چې هغوی راغونډ شول، هغو ته سعد ورغی، ورته ویې وویل: تا ته د دې کلي انصار راغونډ شوي.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته ورغلو، نو د الله حمد یې ووایه او د هغه مناسبه ثناء یې اداء کړه، بیا یې وویل: «اې د انصارو ټولیه! ستاسو له خوا نه ځینې خبرې رارسیږي، چې هغه مو زما په اړه په زړونو کې ګرځي راګرځي! آیا زه تاسو ته داسې مهال در نه غلم، چې تاسو بېلاري وئ، نو الله جل جلاله تاسو ته لارښوونه وکړه او تاسو بې وزله فقیران وئ، الله جل جلاله شتمن کړئ او تاسو یو تربله دښمنان وئ، نو الله تبارک و تعالی ستاسو په زړونو کې مینه او الفت واچولو؟»

هغو وویل: هوکې، الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ستر احسان کوونکی او لورونکی (مهربان) دی.

بیا هغه وویل: «اې د انصارو ټولیه! آیا ما ته ځواب نه راکوئ؟»

هغو وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په څه سره ځواب درکړو، احسان او مهرباني د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم لپاره مناسب دي.

هغه صلی الله علیه وسلم وویل: «خو په الله جل جلاله قسم، که چېري تاسوغوښتي وای، خامخا به مو ویلي وای، نو رښتیا به مو ویلي وای او رښتوني به بلل شوي وای، ته مونږ ته په داسې حال کې راغلې، چې دروغژن ګڼل شوی وې، نو مونږ رښتونی وبللې، په داسې حال کې مونږ ته راغلې، چې چا ستا ملاتړ نه کولو، نو مونږ ستا مرسته او ملاتړ وکړ، شړل شوی راغلې، مونږ تا ته ځای درکړ او بېوزله مونږ ته راغلې، نو مرسته مو درسره وکړه.

اې د انصارو ټولیه! اوس مو د دنیا د تازه ګی په اړه په زړو کې څه ګرځي، ما د دوی د زړونو راماتولو لپاره هغوی ته شیان ورکړل، څو هغوی اسلام ومني او تاسو مې ستاسو اسلام ته وسپارلئ؟

نو اې د انصارو ټولیه! دا مو خوښه نه ده، چې نور خلک اوښان او مېږې کورونو ته بوزي او تاسو د الله جل جلاله رسول له ځانو سره کورونو ته بوزئ؟

زما دې په هغه ذات قسم وي، چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح د هغه په لاس کې دی، که چېرته هجرت نه وای، زه به هم له انصارو څخه یو سړی وم. که ټول خلک په یوه ناو روان شي او انصار په بل ناو ننوزي، زه به خامخا د انصارو ملګرتیا غوره کوم.

اې الله! په انصارو ورحمېږه او د انصارو په زامنو رحم وکړه او د زامنو زامن یې په رحمت کې ونغاړه».

نو انصارو وژړل، تر دې چې ږیرې یې په اوښکو لمدې شوې او ویې ویل: مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په برخه خوښ او راضي یو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ستون شو او دوی هم لاړل خواره واره شول.

### مدینې منورې ته ستنېدل

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له جعرانې نه د عمرې په نیت د بیت الله د زیارت لپاره روان شو او د فئ د پاتې شونو په اړه یې امر وکړ او په مرالظهران کې یې هغه ایسار کړ.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له عمرې اداء کولو وزګار شو، مدینې ته راستون شو.

او عتاب بن اسید رضی الله عنه یې د مکې والي وټاکه، معاذ بن جبل یې هم ورسره پرېښود، څو خلک په دین پوه کړي او قرآن ور وښیي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د فئ پاتې شوني له ځان سره کړل.

رسول الله صلی الله علیه وسلم عمره په ذوالقعده کې وکړه او د ذوالقعدې په پاتې شپو کې مدینې ته ستون شو.

# د اولاد روزني ۱۲۹ مشورې

**لومړۍ برخه/د. احمد بن عثمان المزید+د. عادل بن علي الشدي/ ژباړه: عبدالعزیز ابوبکر**

د کمکیو ماشومانو روزنه هم یو فن دی چې ډېر کم خلك پرې پوهېږي، پر دې موضوع لسګونه واړه او غټ کتابونه لیکل شوي، موږ مناسبه وګڼله چې په څو داسې ګټورو اصولو کې له هغو څخه د ځینو لنډیز را ټول او را واخلو چې د ماشومانو په سالمه روزنه کې ورته د هغوی والدین او روزونکي زښته زیاته اړتیا لري.

عقیده:

۱- اولاد ته کلمه طیبه او په هغې کې نفي او اثبات وښیه؛ په «لا إله» کې له الله تعالی پرته د نورو د خدایي نفي ده او په «إلا الله» کې یواځې د خدای ج لپاره د خدایي ثابتول دي.

۲- دا ورته وښیه چې موږ د څه لپاره پیدا شوي یو(ژ: پېریان او انسانان مې یواځې د خپلې بندګۍ لپاره پیدا کړي. د بل څه لپاره نه ) او د عبادت او بندګۍ بشپړه مانا هم ورته وښیه.

۳- د دوزخ له اور، عذاب، د خدای ج له ترټنې او قهره یې ډېر مه وېروه، ترڅو په ذهن کې یې د الله تعالی یاد له دغو وېرونکو شیانو سره ونه تړل شي.

۴- داسې یې جوړ کړه چې له الله تعالی سره تر ټولو زیاته مینه ولري، ځکه همغه موږ پیدا کړي، روزي راکوي، خوراك، څښاك او جامه را کوي او موږ یې مسلمانان ګرځولي یو.

۵- په پټه له غلط کار کولو یې و وېروه چې الله تعالی دې په هر حالویني.

۶- هغه نېکۍ ډېرې وربانندې کوه چې الله تعالی پکې یادېږي، لکه د خوراك، څښاك، وتو او ننوتو پر وخت «بسم الله» شریف ویل، له خوراك او څښاك وروسته «الحمد لله» ویل، د حیرانتیا پر وخت«سبحان الله» او داسې نورې کلیمې ویل.

۷- د نبي علیه السلام د ځینې ښو صفاتو په ور ښودلو، د هغه په مخکې د نبوي سیرت د کیسو کولو او هر وخت چې د نبي علیه السلام نوم واخیستل شي پر هغه باندې درود ویلو سره اولاد ته له نبي علیه السلام سره مینه ور پیدا کړه.

۸- د قضاء او تقدیر عقیده د هغه په ذهن کې مضبوطه کړه چې خدای ج څه و غواړي هغه کېږي او څه چې خدای ج نه غواړي هغه نه کېږي.

۹- ماشوم ته د ایمان شپږ اصول(پر خدای ج، پر پرښتو، پر کتابونو او رسولانو، پر ورځ د آخرت، د خدای ج له لوري د خیر او شر پر تقدیر او له مرګ وروسته ژوند) ور وپېژنه.

۱۰- د عقیدې په باره کې ځینې پوښتنې ځني وکړه(ځوابونه یې ور زده کړه)؛ لکه: ستا رَب څوك دی؟ نبي دې څوك دی؟ موږ د څه لپاره پیدا شوي یو؟ څوك روزي، خوراك او څښاك راکوي؟ څوك مو له ناروغۍ روغوي؟ توحید څو رنګه دی؟ شرك، کفر او نفاق څه شی دي؟ د مشرك، کافر او منافق لپاره کوم کوم عذابونه دي؟ او داسې نور.

عبادت:

۱۱- اولاد ته د اسلام پینځه جوړښتونه (شپږم یې جهاد) ور وښیه. ادامه لری...

# له اسلامي نظام څخه بغاوت!

**دویمه برخه/ م. اسدالله محمد**

دباغیانو او مشرکانو دوژلو څرنګوالی:
قاعده داده، چې د باغیانو وژل ځکه جایز دي، چې دوی د مسلمانانو په منځ کې تفرقه راولي سره له دې چې د دوی په وژلو کې ګناه نشته، ځکه دوی له حقه اوښتونکي دي.

له کفارو سره د باغیانو وژل په یوولسو وجوهاتو کې فرق لري، چې په لاندې ډول دي.

١- د باغیانو سره د جنګ هدف به له بغاوته د دوی لاس لنډول وي، د دوی وژل به هدف نه وي.
٢- هدف به د دوی ناوړه تدبیرونه شنډول وي.
٣- د دوی زخمیان به نه وژل کیږي.
٤- بندیان به یې هم نه وژل کیږي.
٥- مالونه به یې غنیمت نه وړل کیږي.
٦- ماشومان به یې نه بندیانیږي.
٧- د دوی په مقابل کې جنګ کې به له مشرکینو څخه مرسته نه غوښتل کیږي.
٨- شرعا جواز نشته چې له باغیانو سره هغوی ته په امتیازاتو ورکولو سره سوله وشي.
٩- د باغیانو په ضد به ویجاړوونکې اسلحه نه کاریږي.
١٠- کورونه به یې نه سوځول کیږي.
١١- ونې به یې نه وهل کیږي.

الله ﷻ چې د کایناتو خالق او د بشر پیدا کوونکی دی، تل یې د دوی د ټولنې د بهبود لپاره داسې قواعد رانازل کړي چې په بشري جوامعو کې هیڅ نظام ورسره سیالي نه شي کولای. اسلامي شریعت د خلکو د ابرو، عقل، نسل، ځان او مال ساتنې ته، چې انسان ته ډیر ارزښتمن او مهم دي، خاصه پاملرنه کړې ده؛ الله ﷻ د جرایمو د مخنیوي له پاره داسې جزاګانې ټاکلې دي چې هیڅوک پکې په هیڅ وجه مداخلت نه شي کولی او هغه ډول چې شارع یې د تطبیق امر کړی باید پلي شي. که د بشري نړۍ تاریخ ته یو نظر واچول شي، نو جوته به شي، چې په بشري نړۍ کې د بدبختو مظالمو او کړاوونو بنسټ همدغه په پورته ارزښتونو باندې تعرض دی، کوم چې د الله ﷻ له خوا ورته په اسلامي قانون کې ورته جزاګانې مشخصې شوې دي. د نسل له منځه وړلو څخه مخنیوی له یو طرفه په بشري جوامعو کې د امنیت او ټولنیز نظم خورا مهم امر ګڼل کیږي، همدا رنګه الله ﷻ انسان اشرف المخلوقات پیدا کړی دی او ډیر لوړ شخصیت لري، هیڅوک حق نه لري چې یو انسان ته په سپکه وګوري، که څوک دا کار وکړي او یو چاته سپکې، سپورې او یا پرې تهمت ولګوي، نو دغه شخص قاذف دی او باید د دې جرم هغه ټاکل شوې جزا ورته ورکړل شي، تر څو نور خلک ترې عبرت واخلي. همدارنګه عقل چې د انساني ټولنو د پرمختګ او د الله ﷻ یو ځانګړی نعمت ګڼل کیږي، له کاره غورځول یې جرم ده او هیچا ته جواز نشته چې د هغه د اختلال یا له منځه وړلو لپاره اقدام وکړي که څوک د شرابو په واسطه نوموړی نعمت له منځه یوسي، نو باید اتیا دورې ووهل شي.

اسلام چې د کایناتو د خالق لخوا د خپلو بندګانو د دنیوي او اخروي نجات په منظور را استول شوی او پکې د انسانیت هراړخیزه کامیابي نغښتې ده ترې اوښتل یو جرم دی ترې اوښتونکي ته د مرګ سزا مقرره ده. له شرعي نظام څخه بغاوت او د خلکو د ټولنیزې رفاه او ارامۍ له مینځه وړلو په خاطر لارې ته راوتل او ګډوډي جوړول په شریعت کې مشخص مجازات لري کوم چې د مرتکب د احوالو په پام کې نیولو سره د لاس او پښې یو د بل خلاف غوڅول، وژل او په دار ځړول دي. د خلکو مالونه په ناحقه او په پټه اخیستل تر ټاکلو شرایطو لاندې په شریعت کې د غلا جرم ګڼل کیږي او د هغې عضوې د پرې کولو مجازات ورته پیش بیني شوي، کوم چې نوموړي مال اخیستی، یعنې د لاس پرې کول. همدارنګه هغه ډله او یا یوه طایفه چې د اسلامي حکومت پر ضد قیام او یا خوځښت وکړي او عملاً د جنګ اعلان وکړي، چې دې خلکو ته باغیان وایي او له دوی سره د جنګ او سولې په اړه هم په اسلامي شریعت کې مفصل احکام موجود دي.

په شریعت کې دا ټولې جزاګانې له هغه جرم سره متناسبې دي، کوم چې انجام شوی، یعنې شریعت د جرم او جزا تر منځ تناسب په دقیق او جدي ډول په پام کې نیولی او په دې توګه الله ﷻ پر بشریت لوی رحمت کړی ده، شریعت د اوسني غربي پوهانو د تعبیرونو بر عکس، د انساني کرامت ضد مجازات نه، بلکې د انساني کرامت په درناوي د اصل په بنا چې لومړنی موسس یې د اسلام سپیڅلی دین دی، چې په هر وخت، هر ځای او هر حال کې د تطبیق وړ اصول او قواعد لري تل د انساني جوامعو خولاپریږده، چې د ټولو کایناتو د ښېګڼې له پاره یې لازم او وړ ګامونه پورته کړي دي. په شریعت کې ددې ډول مواردو مثالونه ډیر زیات دي.

نو دا چې شریعت یواځې په نوم یو دین نه دی، بلکې د یو لړ عملي تطبیق کیدونکي، بهبود او پرمختګ رامنځ ته کوونکو قواعدو ټولګه ده، باید هغه وګړي اوحکومتونه یې، چې ځانونه مسلمانان ګڼي په ځان او خلکو تطبیق کړي.

# افغـان اعـلانات

**دعوت به داوطلبی**

DABS/1401/NCB/G-07-Re Bid

نام پروژه : تهیه وتدارک ۸۱ قلم تجهیزات برقی مورد ضرورت فابریکه بند ولسوالی سروبی.

د افغانستان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(تهیه وتدارک ۸۱ قلم تجهیزات برقی مورد ضرورت فابریکه بند ولسوالی سروبی دارای کود نمبر

DABS/1401/NCB/G-07-Re Bid

اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد ها بدست آورده ،آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر تاریخ ۰٦/ ۱۰ /۱٤۰۱ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نمایند آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پزیرش نمیباشد

۱-تضمین آفر : مبلغ ۳۰۵,۰۰۰ سه صدو پنج هزار افغانی میباشد.

۲- آفر گشایی: جلسه آفر گشایی سه شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۰٦/ ۱۰ / ۱٤۰۱برگزار میگردد.

۳-آدرس و محل آفر گشایی : منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.

٤- آدرس اداره : د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیر ید .

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۱۳٦۷۷

آدرس الکترونیکی :

fazalrahman.zahir@dabs.af hamed.kamal@dabs.af

***

**اعلان داوطلبی**

{ ۱٤ قلم عینیات مفروشاتی مورد ضرورت قرار گاه تصدی ملی محافظت عامه بابت سال مالی ۱٤۰۱.}

ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ۱٤ قلم عینیات مفروشاتی مورد ضرورت قرار گاه تصدی ملی محافظت عامه بابت سال مالی ۱٤۰۱.که دارای شماره داوطلبی NPPF/1401/NCB 13 بوده اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دیسک از امریت تهیه و تدارکات تصدی ملی محافظت عامه بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز دو شنبه تاریخ ۱٤۰۱/۱۰/۰۵ واقع تپه نادر خان، ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه، آمریت تهیه و تدارکات ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود و تضمین آفر بصورت بانکی مبلغ ۳٦,۰۰۰ افغانی بوده و جلسه آفرگشایی بروز دو شنبه تاریخ ۱٤۰۱/۱۰/۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تهیه و تدارکات، ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه دایر میگردد. ۳۱۳۳

***

**اعلان داوطلبی**

{ ٦۰ قلم ادویه جات و ملزمه طبی ریاست سکتورهای خصوصی؛ ریاست بین المللی؛ ریاست دولتی خود کفا و قرار گاه تصدی ملی محافظت عامه برای سال مالی ۱٤۰۱.}

ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ٦۰ قلم ادویه جات و ملزمه طبی ریاست سکتورهای خصوصی؛ ریاست بین المللی؛ ریاست دولتی خود کفا و قرار گاه تصدی ملی محافظت عامه برای سال مالی ۱٤۰۱.که دارای شماره داوطلبی NPPF/1401/NCB 15 بوده اشتراک نموده و سافت شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دیسک از امریت تهیه و تدارکات تصدی ملی محافظت عامه بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یک شنبه تاریخ ۱٤۰۱/۱۰/٤ واقع تپه نادر خان، ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه، آمریت تهیه و تدارکات ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود و تضمین آفر بصورت بانکی مبلغ ۲۷,۵۰۰ افغانی بوده و جلسه آفرگشایی بروز یک شنبه تاریخ ۱٤۰۱/۱۰/٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تهیه و تدارکات، ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه دایر میگردد. ۳۱۲٤

***

**اطلاعیه به کرایه دهی**

ریاست عمومی اجرائیوی نساجی افغان دکاکین ، اتاقها و یک دربند حویلی عنایت مارکیت ملکیت خویش واقع کوچه قصابی شهر نو مربوط ناحیه دهم شاروالی کابل را با مشخصات ذیل :

۱-۳۷ باب دکان منزل اول بطرف بیرون و داخل مارکیت .

۲-۱۸ باب اتاق در منزل دوم مارکیت .

۳-یک دربند حویلی دومنزله دارای ۸ باب اتاق ، ۵ باب تشناب و یک دهلیز به مساحت ۱۲٦ متر مربع.

از طریق داوطلبی به کرایه میدهد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان اشتراک در جلسه داوطلبی باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ بیست و یک یوم درخواست های خویش را به مدیریت عمومی خدمات شرکت دولتی نساجی افغان واقع سرک دارالامان کوچه مقابل صالون عروسی کابل دوبی تسلیم نموده ، شرطنامه را ملاحظه تضمین نقدا اخذ میگردد.۳۱۱۸

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم عتیق الله فرزند محمد صادق ولدیت عبدالخالق دارنده تذکره نمبر ( ۰۳۰٤٦-۰۳۰۰-۱۳۹۸) مسکونه اصلی ولایت لوگر مالک دواخانه حامد رفیع لوگری واقع ناحیه هشتم ولایت کابل طی درخواستی عنوانی مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد کریم فرزند محمد یونس ولدیت محمد یوسف دارنده تذکره شماره ( ۹۰۰۱٤-۰۱۰٤-۱٤۰۰) مسکونه اصلی ولایت لوگر گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۳۲

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم حشمت الله فرزند احمد بیک ولدیت غلام قادر دارنده تذکره نمبر ( ۱۳۵۸٦۷۵٤ ) مسکونه اصلی ولایت پروان مالک دواخانه دینا مجتبی واقع ناحیه نهم ولایت کابل طی درخواستی عنوانی مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد شفیع فرزند محمد رفیق ولدیت محمد امین دارنده تذکره شماره (۰۷۲٤٤-۱۲۰٦-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت کابل گردیده است . اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۲۱۲۵

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم محمد جواد فرزند سلطان عزیز ولدیت محمد شریف دارنده تذکره نمبر ( ۱۲۱۹٤-۰۵۰۱-۱٤۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت میدان وردگ مالک امتیاز دواخانه شریفی واقع ولسوالی مرکز بهسود ولایت میدان وردگ طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد امین فرزند محمد رسول ولدیت محمد قل دارنده تذکره شماره ( ۲۵۷۲۹۹٤۸ ) مسکونه اصلی ولایت فاریاب گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۲۲

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم محمد توفیق فرزند محمد رفیق ولدیت محمد عثمان دارنده تذکره نمبر ( ۷۸۰۵۸-۰۲۰۱-۱٤۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ وکیل شرعی امتیاز دواخانه خواجه عبدالله انصار واقع ناحیه سوم ولایت بلخ طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه موکل خویش بالای محترم محمد رفیق فرزند محمد عثمان ولدیت جمعه گل دارنده تذکره شماره ( ۷۷۸٤٤-۰۲۰۱-۱٤۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت بلخ گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۲۳

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم عبدالقدوس فرزند محمد نور ولدیت عبدالقدوس دارنده تذکره نمبر ( ٤٦۷۸۲۸) مسکونه اصلی ولایت بغلان مالک امتیاز دواخانه فیصل الیاسی واقع ناحیه سوم ولایت بلخ طی درخواستی عنوانی مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم فیصل فرزند زلمی ولدیت محمد نور دارنده تذکره شماره ( ۵۷۵٤٤-۱۱۰۱-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت بغلان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۲۱

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم عصمت الله فرزند عیسی ولدیت یارمحمد دارنده تذکره نمبر ( ۳۲۵۸۰۳٦۹ ) مسکونه اصلی ولایت کابل وکیل شرعی امتیاز دواخانه نوی فیض واقع ناحیه مرکز ولایت نیمروز طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد عوض یاری فرزند عیسی ولدیت یارمحمد دارنده تذکره شماره ( ٤۷٤۳۰-۱۰۰۳-۱۳۹۹ ) مسکونه اصلی ولایت نیمروز گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۲٤

***

**اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه**

محترم سید احمد ذکی فرزند حاجی سید کاظم ولدیت حاجی سید جعفر دارنده تذکره نمبر ( ۷۳۹۸۲-۱۰۰۰-۱۳۹۸ ) مسکونه اصلی ولایت کندز وکیل شرعی امتیاز دواخانه محمد نصیر واقع ناحیه سوم ولایت کابل ملکیت محترم نقیب الله فرزند عطا الله طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم نوید عبدی فرزند حمایت الله ولدیت عبدالله دارنده تذکره شماره ( ۰٦۰۲٦-۰۸۰۰-۱٤۰۰ ) مسکونه اصلی ولایت لغمان گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع چهار راهی حاجی یعقوب خانه نمبر (۲۱٤) مراجعه نمایند.۳۱۲۸

***

**اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات**

جواز شماره ( ۲۸٦۲ ) مورخ ۲۲/ ۱۱/ ۱۳۹۸ متصدی رهنمای معاملات حمید الله مجیدی واقع ناحیه ۵ شاروالی کابل به نام حمید الله فرزند عبدالمجید خواهان فسخ جواز خویش گردیده است . بناء بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هرگاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی یک هفته به ریاست انسجام ، بررسی و ثبت جمعیت ها و احزاب – وزارت عدلیه اطلاع دهند.۳۱۲۰

***

**اطلاعیه انتقال مکان رهنمای معاملات**

دفتر رهنمای معاملات صبور منصور دارنده جواز شماره ۱٤۳۵ به اسم عبدالشکور فرزند عبدالودود واقع پروژه جدید قلعه زمان خان ناحیه ۱٦ موقعیت دارد و میخواهد به ساحه احمد شاه بابا مینه ناحیه ۱۲ شاروالی کابل نقل مکان نماید. بناء مراتب به آگاهی رسانیده شد. ۳۱۲۹

***

**اطلاعیه به کرایه دهی**

شرکت افسوتر ساحه به مساحت ۲۲۰ متر مربع ملکیت خویش واقع سرای شمالی ده کیپک مسیر سرک کابل -پروان ساحه آمریت عمومی تخنیکی ترانسپورتی را از طریق داوطلبی به کرایه میدهد.

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش به کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواستی و آفرهای خویش بعد از نشر اعلان الی ۲۱ روز به ریاست افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل یا به آمریت تخنیکی واقع سرای شمالی سپرده ، خود و یا نماینده قانونی شان ساعت ۱۰ قبل از ظهر در جلسه آفرگشایی اشتراک نموده ، شرطنامه را ملاحظه تضمین نقدا اخذ میگردد. ۳۱۱۹

***

د قرارداد ورکولو اعلان

د برښنا د تولید حوزوی ریاست اتل شهید ملاسیف الدین منصور تفریحګاه (رییس باغ) چه مخکې د اعلان له طریقه آزادې داوطلبی ته سپارلې وه په دغه داوطلبی کې بشیراحمد د عبدالمالک زوي په ٦۱۵۰۰ افغانۍ میاشتنی کرایه باندې ګټونکي شوی دي.

اوس د برښنا د تولید حوزوی ریاست په نظر کې لري چه رییس باغ مزایده ته وړاندې کړي، وړ علاقه مندان دي د نشر اعلان څخه وروسته د ۷ ورځو په موده کې د برښنا د تولید حوزوي ریاست تهیه و تدارکاتو مدیریت ته مراجعه وکړي ترڅو شرط پاڼه ترلاسه کړي، داوطلبی له ۷ ورځو څخه وروسته په اتمه ورځ د سهار په ۱۰ بجو د برښنا د تولید حوزوی ریاست د کنفرانس په تالار کې ترسره کیږی، تضمین ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ او شرط پاڼې قیمت ۲۰۰۰ افغانی نقداً ترلاسه کیږي. ۳۱۳۰

# لوګر کې ۲۰ ښوونځیو او دیني مدرسو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

شریعت: د لوګر د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې د حضرت عمر فاروق (رض) خیریه بنسټ په مالي لګښت د ۲۰ دیني مدرسو او ښوونځیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي.
د لوګر د پوهنې رییس مولوي جنت ګل عزیز باختر آژانس ته وویل، چې کیندل



شوې څاه ګانې له ۳۰ تر ۶۰ مترو پورې ژوروالی لري، چې یو شمېر یې لاسي بمبې او ځینې نور د لمریزي برېښنا په وسایلو سمبالې شوې دي. نوموړې زیاتوي، چې په دې کار سره د ۲۰ دیني مدرسو او ښوونځیو ۳۰۰ ښوونکو او تر ۱۰۰۰ زیاتو زده کوونکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي. دا په داسې حال کې ده، چې د لوګر د پوهنې ریاست د یونیسف په مالي لګښت په ۱۰ ښوونځیو کې د اوبو څاه ګانو د کیندلو د لمریزې برېښنا د سېستم فعالولو او هم د تشنابونو د جوړولو سروې پیل کړې ده.

## به لطف امارت اسلامی همه‌ای ملت افغانستان ...

افغانستان خصوصاً علمای کشور از امنیت و احترام برخوردار هستند.
آنان از رهبری نظام اسلامی تقاضا کردند که با استفاده از فضای همدلی و برادری به وجود آمده؛ برای پیشرفت اقتصادی و علمی کشور تلاش کنند.
در همین‌حال، معاون اداری ریاست الوزرا ضمن استقبال از علمای ولایت هرات، از فداکاری‌ها و قربانی‌های ملت به خصوص علماء و مجاهدین قدردانی کرد و آزادی و استقرار نظام اسلامی را حاصل ایستادگی و پایمردی آنان خواند.
وی خدمت به ملت افغانستان را از وظایف اساسی امارت اسلامی دانست و بیان داشت که امارت اسلامی برای پیشرفت و ترقی کشور از هیچ‌گونه سعی و تلاش دریغ نخواهد کرد.

## جاپان غواړي له افغانستان سره خپلې اړیکې ...

همداسې اراده لري او دې برخه کې یې د جاپان له سفیر څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه. سرپرست وزیر زیاته کړه، چې د یو هېواد پرمختګ، ښې حکومتولۍ، ملت ته ژمنتیا او نړۍ سره تعامل پورې تړلی دی، چې اسلامي امارت دې ټولو ته ژمن دی.
نوموړي د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت په اړه د جاپان سفیر ته هر اړخیز مالومات ورکړل.
په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د جاپان سفیر تاکویا تانیموتو په دغه کتنه کې وویل، چې په کابل کې د یاد هېواد د سفارت بیا پرانیستل ګېدل له افغانستان سره ښو اړیکو ته د ژمنتیا ښودنه کوي.
تانیموتو زیاته کړه، چې د افغانستان امنیت د ټولې سیمې لپاره مهم دی او جاپان غواړي، چې له دغه هېواد سره اړیکې له سره ورغوي.
سرچینې همدارنګه وویل، چې جاپان به په دې اړه خپلو هلوځلو ته دوام ورکړي.

## د افغانستان له ستوریو یو ...

نوموړي شعر هم وایه خو ډېر پام یې په هنري نثر کاو. په افغانستان کې لومړنی لنډه کیسه هم ده لیکلې او د سفرنامو په لیکلو کې هم (د هند سفر) په لیکلو تر ټولو مخکې دی. د پښتو ادب په زیاترو برخو کې یې ډېر زیار و زحمت ګاللی. د پښتو ژبې لپاره یې د ګرامر یو ښکلی کتاب لیکلی.
استاذ صدیق الله رښتین په ۱۳۵۲ هـ ش کې له رسمي دندو تقاعد شو، چې له هغه وروسته یې بیا کومه حکومتي دنده و نه کړه.
پوهاند رښتین د ننګرهار له غازي اباده سره راپورته کړ، په زده کړو پسې تر کابله ورسېده چې د تعلیم او تحصیل له برکته یې څو هېوادونو تهس فرونه هم وکړل او پښتو ادب ته یې څه کم سل کتابوه او همداشان لسګونه مقالې ډالۍ کړې، چې د پښتو ادب هر محصل د استاذ د کتابونو لوستلو ته اړتیا لري. د پښتو دغه خدمتګار د ۱۳۷۷ هـ ش په لیندۍ (قوس) میاشت کې د پښتونخوا په لېډي ریډنګ روغتون کې وفات شو.

**د استاذ یو شعر:**

**یو سهار شومه روان د باغ په لوري**
**په اسمان کې ښکاربده لا ښکلي ستوري**
**باغ ته لاړم یو عجب ښکلی ګلشن و**
**د ښایسته ښایسته بلبلو نشیمن و**
**قسم قسم سرودونه د مرغانو**
**په دې باغ کې چغهار و د توتیانو**
**نسیم هسې په مزه و، الوتلی**
**له فرحته واړه باغ و غوړېدلی**
**د قدرت تابلو رنګینه ښایسته وه**
**د هر بوټي غېږ کې ایښې ګلدسته وه**
**لمر راوخوت له مشرق څخه رڼا شوه**
**هر طرف ته د ژوندیو شور غوغا شوه**
**سیوري پر بوټل سجدې باندې قبلې ته**
**په تعظیم او احترام مخ د کعبې ته**
**زرزري ورانګې د لمر پرې راخپرې شوې**
**ګرچاپېره د اسمان لمنې سرې شوې**
**سپینو پرخو چې د اورانګې ولیدلې**
**له خوښیه ټولې پورته والوتلې**
**تازګي د بوټو زیاته له پخوا شوه**
**د غوټیو خولګۍ وازه په خندا شوه**
**جوړ په باغ کې لا یو بل رنګه حالت شو**
**تا به وې پاچا له خوبه را اوچت شو**

## دایکنډي کې سلګونو کورنیو پاکو ...

۶ پروژې د (NCA) موسسې له لوري د ۸۲ زره ۴۴۸ امریکایي ډالرو په لګښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.
د یادونې وړ ده، چې د دغو شبکو په رغولو سره ۲۱۲ کورنۍ له پاکو اوبو څخه برخمنې شوې.

## شماری از شهروندان کشور در دیدار با معاون ...

ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، با شماری از بزرگان قومی، متنفذین و جوانان میدان وردک، بغلان، تخار، کاپیسا، پنجشیر و پروان دیدار کرد.
درایـن دیدار، محمد رحیم و حاجی عبدالواحد حقجو، به نمایندگی از دیگران صحبت نموده، گفتند که در نظام اسلامی کنونی دروازه‌های دفاتر مسؤولین، بدون کدام تبعیض بر روی ملت باز است.
سخنرانان، خواهان توجه به متقاعدین ملکی و نظامی و پرداخت به موقع حقوق آنان شدند.
همچنان آنان از هرگونه همکاری با امارت اسلامی اطمینان دادند و مشکلات ولایات شان را در عرصه های مختلف با معاون سیاسی ریاست الوزراء شریک ساختند.
مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء، از دیدار با آنان ابراز خرسندی نموده، گفت که نظام اسلامی، خواست هر افغان است و این نظام به همکاری قوی افغان‌ها، به میان آمده است. مولوی عبدالکبیر افزود که در نظام اسلامی کنونی، مال، عزت و ناموس مردم مصئون است.
معاون سیاسی ریاست الوزراء وعده سپرد که در خصوص رسیده گی به تمام مشکلات پیشنهادی، به مسوولین ادارات مربوطه، هدایات لازم خواهد داد و راه‌های حل را جستجو خواهد کرد.

## اطلاعاتو ته دنه لاسرسي له کبله کورنۍ رسنۍ ...

ملا خیرالله خیرخواه په مقدماتي وینا کې وویل: داطلاعاتو او فرهنګ وزارت ستاسو وزارت دی او مونږ ټول په یوه کور کې ژوند کوو، تل به په ګډه د خپل کور د ښېرازۍ او ابادۍ کې کار کوو، مونږ مو هر راز همکارۍ او مرستې ته تیار یو، هغه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د رسنیو ترمنځ پر همغږۍ ټینګار وکړ او ډاډ یې ورکړ چې د رسنیو پر وړاندې د ستونزو د حل لپاره د دغه وزارت هڅې روانې دي.
وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو معین ښاغلي مهاجر فراهي لنډې خبرې وکړې نوموړي وویل: موږ په هېڅ صورت له رسنیو سره تصادم نه غواړو او هڅې کوو چې د رسنیو پر وړاندې شته ستونزې د اطلاعاتو او فرهنګ له آدرسه حل کړو.
هغه رسنۍ د دولت او ولس ترمنځ ارتباطي پل وباله او د رسنیو له مسئولینو څخه یې وغوښتل چې د نظام لاسته راوړنې ولس ته او د ولس ستونزې د نظام مسئولینو ته ورسوي؛ په خپلو خپرونو کې دې اسلامي ارزښتونه، افغاني دودونه او ملي ګټې په پام کې ونیسي او خپل فکر او قلم دې د هېواد او هېوادوالو په ګټه وکاروي.
وروسته د رسنیو استازیو هره یوه په خپل وار خبرې وکړې، دغونډې دایرېدل یې ګټور وبلل او په راتلونکي کې یې ددغه ډول غونډو په ترسره کېدو ټینګار وکړ.
نوموړو د حکومت د مثبتو کړنو ترڅنګ هغه نکات او موارد هم په ګوته کړل چې د دوی په کارونو کې خنډ واقع کیږي، هغوی وویل: لیدل کیږي چې کورنیو رسنیو ته په عملي ډول ارزښت نه ورکول کیږي او لکه څنګه چې ښایي په هغه ډول یې حمایت هم نه ترسره کیږي.
هغوی زیاته کړه مونږ ته تر ټوله لویه ستونزه د اطلاعاتو په ترلاسه کولو کې دحکومت نه همکاري ده چې نه شو کولای له امارتي ادارو څخه معلومات ترلاسه کړو.
دغونډې په پای کې داسلامي امارت ویاند مولوی ذبیح الله مجاهد وینا وکړه او د ځینو پوښتنو د ځواب ترڅنګ یې ډاډ ورکړ چې په دې ټولو برخو کې له مسؤلینو سره غږېږي او د دوی غږ به ترمسؤلینو رسوي.

## سرای شهزاده ته نږدې یو لوی سوداګریز مرکز ...

، د ښار او کور جوړولو وزارت او کابل ښاروالۍ مسلکي انجنیران دي، د اقتصادي معاونیت، مالیې وزارت او د پانګونې د تسهیل ریاست د استازیو په شتون کې د یاد سوداګریز مرکز د ودانۍ جوړولو نقشه په هر اړخیز ډول وڅېړي او د خپلو څېړنو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته راپور وړاندې کړي. د اقتصادي کمېسیون په غونډه کې د ډېرو سکرو او په کانونو پورې اړوندو موضوعاتو د څېړنې په موخه بلخ او سمنګانو ولایتونو ته د استول شوي پلاوي راپور هم اورېدل شوی او اړوندو وزارتونو او ادارو ته دنده سپارل شوې چې په راپور کې د شویو وړاندیزونو د پلي کېدو په موخه دې عملي پلان چمتو او د خپلو اجراآتو په اړه دې اقتصادي کمېسیون ته راپور وړاندې کړي.
په غونډه کې لاربښوونه شوې، چې د کانونو او پټرولیم وزارت د یوه معین په مشرۍ دې په ولایتونو کې د مرکزي وزارتونو او ادارو د اړوندو ریاستونو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه شي، چې د کانونو ټولې اړوندې چارې وڅاري.
د غونډې په پای کې د مس عینک په کان کې د شته لرغونو اثارو د لېږد په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پر چمتو شوې طرحه خبرې شوې دي او په اړه یې اړوندو مسوولینو ته لازمې لارښوونې شوې دي.

## د هېواد په ۵ ولایتونو کې نږدې ۱۸ زرو ...

کورنیو مرسته وېشلې، چې په کې هرې کورنۍ ته د ۴ زره ۵۰۰ افغانیو په ارزښت خوراکي توکي ورکړل شول. د یو بل خبر له مخې؛ د ننګرهار ولایت پېښو پر وړاندې چمتووالي ریاست په هڅو او د( AAR Japan) مؤسسې په مالي ملاتړ په سره رود ولسوالۍ کې ۲۰۰ کورنیو ته د خوراکي توکو مرسته ورکړل شوه، چې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو سپله وریجې، ۲۰ لېټره غوړي، ۱۴ کیلو ګرامه بوره، ۱۶ کیلو ګرامه دال، ۲ کیلوګرامه شین چای او مالګه ورکړل شوه. په ورته وخت کې د فراه په پشترود ولسوالۍ کې ۶۹۰ اړمنو کورنیو ته د (CRDSA) موسسې له خوا نغده مرسته ووېشل شوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۴ زره ۳۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.
همدارنګه په لوګر کې د خوړو نړیوال سازمان او د عمل انستیتوت له خوا د دغه ولایت په مرکز کې پر څه باندې ۲ زره بې وزله کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه، چې په کې هرې کورنۍ ته ۴زره ۳۰۰ افغانۍ ورکړل شوې. او دغه راز په جوزجان کې د CHA، ADWSO او داکار موسسو له لوري په تېرو درېیو ورځو کې پر ۱۰ زره ۸۶۷ کورنیو او د سړک غاړې ماشومانو باندې په درېیو پړاوونو کې خوراکي توکي ووېشل، چې په لومړي پړاو کې له ۶زره ۶۶۷ اړمنو کورنیو سره د CHA موسسې له خوا د خوراکي توکو مرسته وشوه، چې په کې ۷۵ کیلوګرامه اوړه، ۹.۳۷ کیلو ګرامه دال، ۶.۸۲ کیلو ګرامه غوړي او د ماشومانو خواړه شامل وو.
په دوهم پړاو کې د خوړو د نړیوال سازمان په مرسته او د ADWSO موسسې په تخنیکي همکارۍ پر ۲۰۰ هغو ماشومانو چې د سړک پر غاړو یې کار کاوه خوراکي توکي ووېشل، چې هر ماشوم ته ۷۵ کیلو ګرامه اوړه، ۷.۵ کیلو ګرامه غوړي، ۹.۳ کیلو ګرامه دال او ۷۵۰ ګرامه مالګه ورکړل شوه.دغو مرستو په درېیم پړاو کې د ډاکار موسسې له خوا پر ۴زره اړمنو کورنیو خوراکي توکي ووېشل شول، چې هرې کورنۍ ته په کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۷ لېټره غوړي، ۷ کیلو لوبیا او یوه بسته مالګه ووېشل شوه.

## یکصد و ده خانواده در بلخ از انرژی برق ...

خوانده است و گفته است با نصب و منتاژ یک پایه ترانسفارمر، به ظرفیت ۲۵۰ کیلوولت امپیر در ساحه علی شیر نوایی ۱۱۰ خانوده از نور برق مستفید شدند. طبق یک خبر دیگر، شرکت برشنا همچنان گفته است، کارمندان تخنیکی آنان به منظور جلوگیری از سرقت برق، عملیات شبانه را در ساحات مختلف شهر کندز به راه انداختند که در جریان آن شماری از میترهای که به دلیل عدم پرداخت صرفیه قطع گردیده بودند و دوباره وصل شده بود، قطع کردند.

## غزني کې د ۹۰ پروژو چارې ...

او پراختیا برخو کې کار کوي. هغوی زیاته کړه، چې سږ کال په دغه ولایت کې د غیر دولتي موسسو له لوري ۲ زره ۵۰۰ کسانو ته په قراردادي توګه او ۱۴ زره ۸۲۸ کسانو ته په مؤقتي ډول د کار زمینه برابره شوې ده. مسوولینو ډاډ ورکړ، چې په دغه ولایت کې به د بې وزلۍ د کمولو لپاره د کار زمینه برابره کړي.

## هلمند کې د ۲۶ میلیونو افغانیو په لګښت ...

او څلورمې ناحیو د ګلدانونو او کټارو د رغولو او رنګمالۍ چارې د لښکرګاه ښاروالۍ په انکشافي بودجې رغول کېږي، چې چارې به یې د ۴ میاشتو په موده کې بشپړې شي. د یاد ونې وړ ده، چې په یادو پروژو کې به سلګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شي.

## بلخ کې د ۲۲۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ...

ښاروال مولوي نقیب‌الله طارق وویل، چې بلخ ښاروالۍ له خپلوعوایدو څخه د ۲۲۰ میلیونو افغانیو په لګښت د سړک رغونې د ۲۲ پروژو عملي چارې پیل کړې دي.
د یادوني وړ ده، چې یادې پروژې د دغه ښار په ۱۲ ناحیو کې پلې کېږي، چې په دې سره به سلګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

## استقبال مردم پروان از فرمان جاری شدن ...

نهایت موثر و گام ارزنده دانست. طبق یک خبردیگر؛ یک محراب مسجد که به هزینه ۴میلیون افغانی از طرف مردم در مرکز ولسوالی سرخ پارسا پروان ساخته شده بود، با حضورشماری از مسئولان محلی به بهره برداری سپرده شد.

## آغاز کار ساخت سرک و بازسازی تفریحگاه ...

ساخته می‌شود و تپه مرنجان به زودی به یک مکان مناسب تفریحی و زیبا مبدل خواهد شد.
در این مکان ساخت یک محراب مسجد جامع، کلینیک، میدان‌های ورزشی و بازی برای جوانان و اطفال، مهمان خانه‌ها، توقفگاه وسایط، کانتین‌ها، نصب دراز چوکی‌ها، سایه بان‌ها، کتاره‌ها، توسعه و گسترش سرسبزی، ساخت پیاده روها، فواره‌های تزئینی آب، تنویر و گلدان‌های تزئنی به شکل معیاری و اساسی نیز ساخته می شود که کارهای مقدماتی آن آغاز شده است.
تاسیسات یاد شده را نهادها و اداره‌های مختلف با همکاری بخش خصوصی داخلی در مدت یک سال به پایه اکمال خواهند رسانید.

## کابل لپاره نوی والي ...

معین شیخ محمد قاسم خالد، د کابل والي په توګه، او د دیني خپرونو د نظارت او کره کتني اداري مخکنی غړی مفتي محمد طاهر د لوړو زده کړو وزارت د محصلینو چارو د معین په توګه ټاکل شوي دي.
مجاهد په رسمي توګه د یادو کسانو د معرفي کېدو نېټه نه ده په ډاګه کړې.

Shariat

Twice printed in week

**Shariat**

**Published by**

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**

0782080666

**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852

**Email: Shariatdaily@gmail.com**

**WWW: dailies.gov.af / shariat** ویب سایت:

**شریعت**

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې

د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس:

م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶

مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲

د شریعت برېښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ

شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 01 December 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 106


### د کرنې وزارت مرستیال:

## افغانستان کې کرنه معیاري څېړنو ته اړتیا لري




شریعت: د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنې او مالدارۍ مرستیال مولوی صدراعظم چې د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي د څېړنیزو پوسترونو له نندارتون څخه لیدنه کوله وویل، چې کرنیز تولیدات باید معیاري، سوداګریز او صنعتي شي.

نوموړي زیاته کړه، چې د افغانستان ۸۰ سلنه وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو ځکه کرنه معیاري څېړنې ته اړتیا لري، او وزارت له اکاډمیکو بنسټونو او پوهنتونونو سره د عمل په ډګر کې همکاریو ته چمتو دی.

په همدې حال کې د کابل پوهنتون رییس دکتور اسامه عزیز د کرنې په برخه کې د مسلکي کسانو پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل، چې افغانستان یو کرنیز او په کرنه ولاړ هېواد دی او په دې برخه کې لا ډېر کار او څېړنو ته اړتیا ده.

### د خوړو او درملو ملي اداره:

## د خوړو او درملو د تولیدوونکو او واردونکو شرکتونو څخه جدي څارنه کېږي

شریعت: د بلخ والي مولوي محمد داوود مزمل په خپل کاري دفتر کې د خوړو او درملو ملي ادارې له رییس ډاکټر عبدالباري عمر سره وکتل.

په دې کتنه کې د خوړو او درملو ملي ادارې رییس عبدالباري عمر وویل، چې د خوړو او درملو د تولیدوونکو او واردونکو شرکتونو څخه جدي څارنه کېږي، ترڅو هېوادوالو ته په هېواد د ننه باکیفیته درمل تولید شي او اړتیا نه وي، چې هېوادوال د درملنې په موخه بهر هېوادونو ته لاړ شي.

د یادونې وړ ده، چې د خوړو او درملو د ملي ادارې رییس او ورسره مل پلاوی بلخ ته د خوړو او درملو د څارنې ترڅنګ په دغه ولایت کې د سړو خونو د پرانیستلو په موخه سفر کړی دی.



### د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست:

## د کندهار په ټولو ولسوالیو کې د بیارغونې پروژې پلې کوو



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست ملا محمدیونس پرون د کندهار له والي محمد یوسف وفا سره وکتل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر ملامحمدیونس آخند په دغه کتنه کې وویل، چې د کندهار په دوو ولسوالیو ډنډ او دامان کې یې تازه ۱۱ کانالونه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل او همدا راز یې په ارغنداب ولسوالۍ کې د دریو ویالو پر جوړولو کار پیل کړی دی.

نوموړي زیاته کړه، چې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله ته یې په نورو ولسوالیو کې هم د بیا رغونې د کارونو پیل کېدو وړاندیزونه کړي دي.

په ورته وخت کې د کندهار والي محمدیوسف وفا د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت سرپرست ته د ښه راغلاست تر څنګ له نوموړي څخه غوښتنه وکړه، چې د دغه ولایت په لرې پرتو ولسوالیو کې دې هم د بیا رغونې پروژې پیل کړي.

کندهار والي همدارنګه سرپرست وزیر ته د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ټولو پروژو د تطبیق او چارو د ښه پرمختګ په برخه کې د همکاریو ډاډ ورکړ.

د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست د کندهار له والي سره د کندهار پوهنتون او نورو بېلا بېلو موضوعاتو په اړه خبرې کړې وې.

## ننګرهار کې د یو روغتیایي مرکز د جوړولو ډېره کېښودل شوه



شریعت: د ننګرهار ولایت عامې روغتیا مسؤلین وایي چې د کډوالو نړیوالې ادارې (IOM) په مالي همکارۍ د بهسودو ولسوالۍ اړوند د وچ تنګي اساسي روغتیايي مرکز (BHC) لپاره د نوې ودانۍ بنسټ ډبره د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس ډاکټر محمد رحیم قلندري، مرستیال، او د لومړنیو روغتیایي څارنو امر مولوي عطاءالرحمن فاتح له لورې کېښودل شوه چې په ۳ میاشتو کې به یې چارې بشپړې شي.

مسؤلین وایي، د یاد روغتیایي مرکز په جوړولو شاوخوا ۹۵زره امریکایي ډالر لګښت راځي.

د سیمې مشرانو د یاد روغتیایي مرکز لپاره د نوې ودانۍ پر جوړېدو خوښي وښوده او د روغتیا په برخه کې یې شته ستونزې د عامې روغتیا رئیس سره شریکې کړې.

## اطلاعیه معینیت فرهنگ و هنر وزارت اطلاعات و فرهنگ

بدینوسیله به آگاهی عموم نهادهای تولیدی (ترانه ها) که فاقد جواز نامه فعالیت می‌باشند، رسانیده می‌شود که به منظور قانومند شدن فعالیت‌های هنری‌شان هر چه زودتر جهت اخذ جوازنامه فعالیت به ریاست ترنم و ترانه‌های وزارت اطلاعات و فرهنگ واقع تعمیر آرشیف ملی مراجعه نمایند. در غیر آن دفاترشان توسط هیات مؤظف مسدود می‌گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.


### علمای هرات در دیدار با معاون اداری:

## به لطف امارت اسلامی همه‌ای ملت افغانستان از امنیت و احترام برخوردار استند

شریعت: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرای امارت اسلامی افغانستان دیروز با شماری از علمای هرات دیدار کرد.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا با نشر خبرنامهٔ گفته است که در این دیدار مولوی رحمت الله و سید عبدالباقی به نمایندگی از دیگران صحبت کردند و با استقبال از ختم اشغال و استقرار مجدد نظام اسلامی در کشور، گفتند که در نظام قبلی علمای کشور به مشکلات زیادی مواجه بودند و حالا به لطف برقراری نظام اسلامی، همهٔ ملت ...

ص۷



## د فراه د کرنې ریاست په عوایدو کې ۹۰ سلنه زیاتوالی راغلی



شریعت: د فراه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ریاست په عوایدو کې د تېر کال په پرتله ۹۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

د فراه د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالمؤمن فیصل د باختر آژانس سره په خبرو کې وویل، چې سږ کال یې د عشر او زکات د راټولو له لارې ۱۰ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي، چې تېر کال دغه عواید یوازې ۱ میلیون افغانۍ وو.

مولوي فیصل همدارنګه زیاته کړه، چې سږ کال د طبي بوټو (هنجه، اورشي) او نورو بوټو څخه یې ۸ میلیونه ۶۵۰ زره افغانۍ عواید راټول کړي او د دولت خزانې ته یې سپارلې دي. هېره دې نه وي، چې د اسلامي امارت له راتګ سره سم د عایداتي ادارو په عوایدو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

## کمک غذایی با ۴ هزار خانواده نیازمند در تخار

شریعت: ۴ هزار خانواده در تخار، مواد غذایی دریافت کردند.

سازمان غذایی جهان در تخار، برای ۴ هزار و ۲۳۰ خانواده نیازمند در مرکز و ولسوالی بهارک این ولایت مواد خوراکی توزیع کرد.

مسوولان ریاست احیاء و انکشاف دهات تخار می‌گویند که برای ۲ هزار و ۲۳۰ خانواده در شهر تالقان و برای ۲ هزار خانواده دیگر در ولسوالی بهارک کمک غذایی توزیع کرده اند.

به گفتهٔ مسوولان، هر خانواده به ارزش ۴۵۰۰ افغانی مواد خوراکی، از جمله آرد و روغن دریافت کردند.

## یک جاده به طول ۵۱ کیلومتر در لوگر به بهره‌برداری رسید



شریعت: جادهٔ مواصلاتی ولسوالی آزره لوگر، جغل اندازی شد.

این جاده به درازای پنجاه و یک کیلومتر و پهنای پنج متر، به هزینهٔ دوازده میلیون افغانی جغل اندازی شده است.

منابع از ولایت لوگر می‌گویند که با جغل اندازی این جاده، در رفت و آمد مسافران و کاروان‌های تجاری سهولت ایجاد شد.

این پروژه که تحت نام کار در مقابل گندم از سوی ریاست زراعت و مالداری لوگر عملی گردیده، مشکل دیرینه‌ی راه مواصلاتی باشندگان ولسوالی آزره با شهر پل علم را مرفوع می سازد.

ولسوالی آزره در ۸۳ کیلو متری شهر پل علم موقعیت دارد.

## بازداشت ۱۶ تن در پیوند به فروش مواد مخدر

شریعت: پولیس شانزده تن را، در پیوند به فروش مواد مخدر در پنج ولایت کشور گرفتار نموده است.

دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفته است که ۱٦تن در پیوند به فروش مواد مخدر و شراب از ولایت‌های هرات، بغلان، ننگرهار، غور و پکتیا گرفتار شدند. از این میان، ۸ تن در پیوند به فروش مواد مخدر از هرات،ی ک تن از بغلان، ٤ تن در پیوند به فروش شراب از ننگرهار، ۲ تن از غور و یک تن دیگر با یک موتر ۸۰۰ کیلو گرام چرس از ولسوالی زرمت پکتیا، از سوی پولیس گرفتار شدند.

## دایکندي کې سلګونو کورنیو پاکو اوبو ته لاس رسی پیدا کړ



شریعت: د دایکنډي د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په سنګتخت ولسوالۍ کې د اوبو رسولو ٦ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دایکنډي د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولینو وایي، چې په سنګتخت ولسوالۍ کې د اوبو رسولو دغه...

۷مخ

## غور کې د ۴۲ کیلومتره سړک د رغولو چارې پیل شوې

د غور سیمه ییز مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په پسابند ولسوالۍ کې ځایي خلکو د ۴۲ کیلومتره سړک د رغولو چارې پیل کړې دي.

د غور ولایت سیمه ییزو مسوولینو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل چې د دغه ولایت په پسابند ولسوالۍ کې د ځایي اوسېدونکو له خوا یو سړک د ۴۲ کیلو مترو په اوږد والي او ۶ مترو په سورالي سره رغول کېږي، چې چارې یې رسماً پرون پیل شوې.

هېره دې نه وي چې د یاد سړک په رغولو سره به د سیمې د اوسېدونکو د تګ راتګ ستونزې حل شي.



## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتینې هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې مونږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.